# هغه وویل

لیکوونکی: جبران خلیل

پښتو کوونکی: عزیزالرحمن "سیفی"

پښتو ټولنه

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00032322 9

پرله پسې کڼه (۱۳۲)

# هغه ويل

## ليکوونکی: جبران خلیل

په اردو ترجمه کوونکی: ښاغلی قاضي عبدالغفار

پښتو کوونکی: ښاغلی عزيزالرحمن سيفي

د پښتو ټولنې د کابل مجلس له خوا

PROPERTY OF ACKU

د طبع شمير ۱۰۰۰ جلده

قوس

دچاپ نیټه ۱۳۳۶

بسم الله الرحمن الرحیم

# دا کتاب

پښتو ټولنه د خپلو نورو وظایفو او کارونو په ضمن کښې دا هم غواړی چه پښتانه لوستونکی د دنیا د مشهورو پوهانو او لیکوالو له فکر او خیال سره څه نه څه اشنا شی او د نورو په ادب کښې هم خپلی سترګی وغړوی.

دا کار د پښتو ادب د انکشاف او ارتقاء دپاره ګټور دی او پوهه زیاتوی په همدغه وسیله د یوه ځای خلق د بل ځای د خلقو له احساس او نظر سره اشنا کیږی او د عمومی پیژند ګلوی ډېره ښه وسیله ده.

د جبران خلیل جبران دغه کتاب د همدغه مقصد دپاره په پښتو چاپ کړی شو.

د یوه شاعر د اشعارو او ادبی آثارو ترجمه کول په هماغه اصلی کیف له امکان څخه لرې غوندې ښکاری او دا نشی کېدی چه اصل او ترجمه په ادبی تله کښې داسی برابر وخېژی چه هیڅ توپیر او تفاوت ویاس پکښې نه وی، هغه اشعار چه د بیان سحر ئې په عبارت او تعبیر پورې زیات ارتباط لری او ډېر ابتکار ئې په تشبیهاتو، استعارو او رنګین تعبیرو کښې وی ترجمه ئې له هغو اشعارو نه ډېره ګرانه ده چه ابتکار یوازې په مضمون کښې وی او د الفاظو په ترکیب او تالیف کښې ئې ډېرې باریکۍ او غرابت نه وی موجود کوم لطافت او ښکلیتوب چه د الفاظو په ترتیب او حسن یا نظم او آهنګ کښې

ACKU

ځای لري هغه لکه د یوه باغ مرغۍ بل باغ ته ته ځي او لکه د ګلو نورنګ له وزمې سره پرواز نه کوي.

ډیر ځله د یوې ملي ژبې خاوندیه د غسې لطایفو او دقایقو پوهیدلی هم نشي یا ورته لفظ او تعبیر پخپله ژبه کښې نشي موندلی یعنې دا یوازې د مترجم ګناه نه ده د ژبو خصوصیات هم پکښې ډیر دخل او تاثیر لري.

په همدغه وجه ډیر امکان لري چه پدې ترجمه کښې دغه راز نمکړتیا ډیره موجوده وي او د شعر روح پکښې خپه وي،

ځکه چه دا اثر یو ځل په اردو ترجمه شوی او بیا له اردو پښتو شویدی مګر دا نقص په ښاغلي سیفي صاحب پورې اختصاص نلري که ما یا بل هم دغه اثر ترجمه کړی وای د غه نقیصه به موجوده وه ځکه وایم چه د ښاغلي سیفي صاحب دغه خدمت له دغه احتمال سره هم د پښتو ژبې دپاره ډیر ښه خدمت دی او دغه راز خدمت هم دهر چا له لاسه پوره نه دی.

زه دده زیار او کار دقدر وړ بولم او په ښه سترګه ورته ګورم هیله ده چه دا کتاب د ښا غلو لوستونکو دپاره مفید واقع شي او د ادبي ذوق او احساس په پالنه کښې ښه برخه ولري (ګل پاچا الفت)

# ګرانو لیکوالو!

دا دی کابل مجله بیا په خپلوار خپل دلمنی بوغښتنې ګل د کتاب په حیث تاسې ته تقدیموی' او ستاسې ادبی ننده د همدې کتاب په لیدلو ماتوی دا کتاب د ډېرو لوی او پاخه لیکوال یو یوح اثر دی چه هغه خپلو اوربدو نکو ته وائي:-

کوم حسن چه ښار بان ئې دلمر په ختلو او بز ګرنې دلمر په لوېد لو کښې تصور کوی او بائې لو ګری په خزان او شاعر په پسرلی کښې فرضوی' هغه زه حسن نه بولم بلکه ما ته حسن هغه پټ موهبت ښکاری چه انسان ئې هنداره بلل کېږی.

ژوندباید د مینې په امروشی که څه هم مینه څوك داوږو په شان میده کړی او بیائې واغبزی او اور ته ئې واچوی ځکه مینه په همدې شان هر څوك د خلقت په راز پوهوی او د دستر خان عزت وربخښی.

در د په حقیقت کښې د هغه صدف د ماتیدلو د تکلیف نوم دی' چه ستاسې بوهه ئې بندی کړې ده ـ که تاسې غواړی ٔ چه اعلی فکر وزیږوی ٔ د همد غه کلك پوست د ایستلو تکلیف وزغمی ٔ' دی واېی څرنګه چه د ګل د غوړیدلو دپاره د غوټی د سینې دچا و دلو ضرورت شته په همدې شان دا صدف هم باید مات شی

خوشحالی : دغم حقیقی او بې حجابه څهره ده که تاسې دخوښی ٔ نور راز هم معلومول غواړی ٔ نو د خوښی د محفل ګیلاس په هغه حال کښې و ګور ی ٔ چه کلال ئې خټه اور ته غورځوی یا داچه د شپیلۍ د نغمې په وخت کښې هغه نجار در په یاد کړی ٔ چه همدا شپیلۍ ئې تر اري لاندې وه.

عقل د عمل او حرکت کنترولر دی. جذبه بیا هغه شعله ده چه ځان هم سوځی او بل هم- هو! دلته د روح په قوت عقل هغه مقام ته رسول غواړی چه

ACKU

د جذبې سره مشتر که نغمه وزغوي او بې جلبه ؤ بې توازنه عمل او حرکت ته توازن ور کړي .

دی اولاد به حقیقت کښې د حیات د قوت او د پیدا ئښت د جذبې ضامن بولي نه زمونږ او ستاسي — اولاد ته خپل خیالونه و کول غلطي بولي ځکه اولاد د ځان سره د نوي نو خیالونو راوړونکي بولي — دی روح آزاد پرېښودل غواړي او وائي کوم کورونه چه د دوی روح تلونکي وي د هغه نوم « سبا » دی چه تاسي هلته لاړ نه ارئ .

ښځي ته وای : ته له خپلې جنسي مینې څخه ځان ته ځنځیرمه جوړوه بلکه ستاسي به منځ کښې باید د آسمان د آزادۍ هواد گرځیدلو فاصله وي ستاسي مثال باید د ساز د تارونو وي چه بیل بیل هر یو رغ کوي او یو ځای نغمه هم جوړولای شي د مسجد د هغې ستنې په شان اوسئ چه بیلې بیلې ولاړې وي مگر د سقف د ساتلو د پاره تولي سره یو شوې هم وي،

قانون جوړوونکي ته وای: هغه څه چه ته د قانون جوړولو او ماتولو د پاره کوي د هغه ماشوم لوبي دي چه د سیند پر غاړه ئې ماشوم د کورکي جوړ ولو ورانولو د پاره کوي سره له دې چه د دوی د ورانولو او جوړولو نه وروسته سیند تر هغه زیاتې شګې راوړي هلته دوی خوښې کوي او د لته تاسي. داچه تاسي خپل ځان غر او قانون پر همد غو تیږو نقش بولئ د استاسي تصور دی حقیقت دادی چه هر نوی نقش د بل نوی نقش راوړونکي دی.

ACKU

کوتوال ته وائی: تاسی ته دانده معلومه چه دهر گناه گار د گناه سره نور بې گناه هم شریك وی تاسی د هغی ونی ریښې چه د ځمکې وبنې (اوبه) زیښنې فیاضی ځانګې نه بولیٔ اوبا ثمره خطاب نه ورته کوی تاسی د گناه دخاوند گناه او پښیمانی دواړه تر خپلی سزاوړو کی نه بولی ایا تاسی په دې پوهیږی چه پښیمانی د بدورو او د بیداری د پاره بې بلنې راځی او د انسان په وجود کښې چه د ضمیر د یوه بلوی تاسی د منبر جګې تیږی د تهداب د لاندنیو تیږو په واسطه جګې نه بولیٔ.

مذهب: اعمال د اصولو د مخصوصو اخلاقو په دائره کښې استعمالول د یوې مرغۍ د بندی کولو مثال بولی دی عبارت د یوی مخصوصی کړ کی په شان خلاصول او تړل گڼی بلکه د روح حاله د مشرق څخه تر مغرب پوری گڼی ده ته د ژوند ماحول لوی معبد ښکاری - دی مذهب په دول دول رنگونو کښې نه خوښوی بلکه مذهب په فطری حال ازادیږ ښوول غواړی.

د مرگ څخه وېره هغه شپانه ته ورته بولی چه د پادار څخه بیر یږی په داسې حال کښې چه هغه د شفقت لاس هم پرسرور تیروی. دی وائی چه د ساو تل د نفس خلاصیدل دی له یو مضطر با ته حال څخه چه په ازاده فضا کښې د کمال مطلق پلټنه وکړی جبران وائی هلته ستاسی فطرت په ابدی محیط کښې په ازاد ډول خپل رقص او نشا کوی' خو دی دا خبره چه بوڅوک حق ته ځان رسید لی بولی؛ یو خطا کار گڼی او وائی چه معنوی سمندر لا یتناهی دی د لته دومره توصیه کوی چه د خپل تصور د لوڅیدلو خیال په ځان کښې قوی کړی او د روح په قوت د هغه تل ته ځان ورسوی مگر د تل د معلوم لو کوشش ونه کړې. دی روح یو سل د نهږ گل بولی او انسان ئې یوه پانه.

وینا: دې دوینا په خصوص کښې د خصوصي وقت او اشنائی له لاری. نه څه و بلو ته د شرابو هغه خمار وائي چه د یاد ګار په ډول هرو خت پا ته کېدلای شي.

منجم ته وائی: تاسی دوقت د اساسی لاری دغوره کولو کوښښ کوئ خودی خبرې ته هم ملتفت کېدل په کار دی چه پرون په نن کښې د ماضي په تش نقش دی او راتلو نکې سبا په نن کښې په خوب او خیال. تاسی په دې پوهېږئ چه ستاسی په وجود کښې یو دا ډول شی شته چه هغه دو خت تر تا ثیر لاندې نه شی را تلای ګوری! هغه عشق او مینه یو په بل پسی پیدا کېږی او د اقوت د زمان او مکا ن بدلون یو ناضرور نه شی بولی داو ددې کتاب ځینی مجمل او مهم ټکی چه د کتاب ښودنه په اجمالی ډول څه نه څه کوی.

ستاسی د خدمت ډیر لیوال م — د — ژواك د کابل مجلی مدیر

(۱)

# هغه و ویل

## دپاك خدای په مقدس نامه ددی کتاب په لیکلو

## پیل کوم (۱):

هغه غوره او محبوب، هغه چه دخپلی زمانې دسهار ځلاند ستوری ؤ.
په (عرفه) نومی ښار کښې تر دوولسو کلونو پوری دخپل هغه جهاز را تلو ته منتظر ؤ.
چه یوه ورځ به ده بېسی راتلونکی ؤ. او دی ئی خپل وطن ته بیوه.
په دوولسم کال د (..) فیاشتی په (۷) ورځ په داسی وخت کښې چه دد غه ښار
خلك په لو، بوخت ؤ، دی له ښار نه لری په یوه غره باندی وخوت او دسمندر
خواته ئی په کتلو پیل وکړ.
ده دسمندر په لړو او دوربځو او دوند په ترځ کښې خپل جهاز خپلی خواته
په راتلو کښې ولید، ډیر خوشحاله شو.
له ډیری خوشحالی نه ئی دخوشحالی وزرونه خپاره کړل دسمندر
پرمخ ئی وغوړول، له ډیری خوشحالی نه یی په دغه وخت کښې سترګی پټی کړی.
په دی حال کښې دده روح د کامل سکون په حال کښې ددعا دپاره خپل دواړه
لاسونه پورته کړل.
مګر هر کله چه دی له دغه غره څخه را کښته کیده نو په دغه وخت کښې
ده ته یوراز ناامیندی وریښه شوه او ناڅاپه ئی په زړه کښې داخیال پیدا شو:
چه زه به له دی ځای څخه څنګه خوشحاله او بې غمه ولاړ شم؟
ای خدایه! زه به له دی ځای څخه څنګه بې غمه او خوشحاله ولاړ شم؟

---

(۱) داپانې تمهید اودیباچې ته ځکه اړه نه لری چه داپخپله تمهید او دیبا چه ده. اودا اجمال تفصیل ته هم ځکه ضرورت نه لری چه دا اجمال پخپله زما دموضوع تفصیل دی

ای خدایه! زه به له دی ځای څخه هله بی غمه او خوشحاله ولاړشم چه پر خپل روح به بل زخم و نه لګوم.

ما په دی ښار کښی دغم او خوشحالی ډیری شپی ورځی تیری کړی، که څه هم زما دیوالی والی شپی ډیری اوږدی وی مګر سره ددی هم دخپګان او نا کراری شپی نه وی.

نو په دی صورت کښی داخبره امکان نلری چه یو سړی دداسی تکلیفونو، په مقابل کښی له خوشحالیو هغه قدر او هوسا یو څخه چه د تکلیف او مسافری په دغو شپو ورځو کښی بی لیدلی وی بی تأثره پاته شی او په هغه وخت کښی چه له دغو مخلصو ملګرو سره وداع کوی دحسرت او خپګان اوښکی ئی په مخ و نه بهیږی.

ما په خپلو ګوتو دخپل روح ډیری ټوټی په دی خاوره کښی شیندلی دی.

او زما ډیری هیلی او آرزو ګانی چه زما اولادونه دی، ددی غرونو په کانو بوټو، شیلو او لمنو کښی لوبی کوی، زه له دغو خپلو اولادونو سره ډیره مینه او علاقه لرم، او له دوی څخه جلا کیدل ارومرو په ما زیات تاثیر کوی او ددوی په په بیلتون ډیر خپه کیږم.

او داځکه چه خپل خپلوان او دوستان او ملګری کالی او جامی نه دی چه انسان ئی په خوشحالی سره بدل کړی او دځان څخه ئی بیرته ګوزار کړی او ددوی په جلا کیدو هیڅ متأثر نه شی؟ بلکه دآشنایانو او دوستانو او خپلوانو څخه جلا کیدل داسی دی لکه چه انسان دخپل وجود پوستکی دځان څخه لری او جلا کړی او د وجود دپوستکی جلا کول، طبعاً ډیر درد

ACKU

او تکلیف لري. ما نه د دوستانو څخه بېلېدل داسې ښکاري. لکه چه یو انسان له خپل زړه څخه وینې او توتې جلا کوي.

دا ښار چه ما پکښې شپې، ورځې تیرې کړې دي او دا خلك چه له ما سره ئې ډېرې همدردۍ کړې دي. کوم فرضي شیان نه دي چه زه ئې بې له کوم خپګان او تأثر څخه پرېږدم او پرې ئې ږدم او بې د کوم خپګان او تأثر له احساسه له دې ځای څخه ولاړ شم.

دا خاوره خو زما د زړه ټوټه او دا خلك زما دېستر ګو تور دي.

زما ګران او هغه مخلص او خواخوږي دوستان دي چه: ما د دوی د لاسه ډېر خوازه نعمتونه څښلي او ډېرې ښېګڼې لیدلي دي.

لیکن سره د دې ټولو خبرو زه د لته پاته کېدلی نه شم!

سمندر چه ټولو خلکو ته ئې د واړه لاسونه واز کړي او هر څوك په ډېره مینه په غیږ کښې اخلي. ما به هم ډېر ژر په خپله غیږ کښې و نیسي.

آخر به زه هم په خپل د غه جهاز کښې سپور شم! او داځکه چه: په یو ځای پاته کېدل، په داسې حال کښې چه د شپې ورانګې هم په حرکت کښې دي.

یو راز جمود او له حرکت نه محرومیت دی. د دې مثال به داسې وي.

لکه چه هوا د واوري په اثر منجمده شي. او په یوه صافه او شفافه ښیښه کښې بنده شي

زما په دې ځای کښې پاته کېدل امکان نلري!.

ارمان چه ما دا ټول له خاوره د خپل ځان سره وړی او یا مې دا ټول خلك د خپل ځان سره بیولي وای. مګر څنګه چه آواز له ژبې پیدا کیږي. په خپله

خوځي مګر ژبه له خپل ځان سره نشي بيولی. آواز مجبور دی چه يوا ځی په خپل مقصد پسی په هوا کښې والوزی.

او دغه راز عقاب!

په کوم وخت کښې چه دی د خپلو قوی وزرو نو په مرسته دهوا دآزادي فضا او ځلاندو وړانګو جال څيری، اوالوزی نو په دغه وخت کښې دی خپله ځاله دخپل ځان سره نه وړی او نه ئې وړ ی شی.

هم دغه راز دفکرونو په درياب کښې ډوب، مغموم. او مسرور هم. هر کله چه له غرنه را کښته شو، نو وئې ليدل چه: دده جهاز په ډېره بېړه دسمندر د غاړی خوا ته رارawan دی، اوپه ستر ګه رپ کښې د سمندر په غاړه ودريد، دد ې جهاز تول مانهو ګان دده وطنداران وو.

که څه هم دی چوپ، اوپه خوله ئې هيڅ نه ويل، مګر دده روح بې اختيا ره دغو مانهو ګانو ته داچيغې وهلې:

زما دمقدسې مور زامنو! دبحر دموجونو اوڅپو شهسوارانو! ماتاسې ډېر ځله په خوب کښې دتصور په څپو سپاره ليدلی یاست! او نن تاسې دبيدارۍ په بو دا رازحال کښې ماته راغلی یا ست چه دغه حالت دخوب له عالم نه هم ډېر عميق او وسيع عالم دی. هو! زه دې کار ته حاضر او آماده يم چه تاسې سره ولاړ شم! او زما دسفر ميني هم خپل بادوانو نه پوره ته کړی دی او ديو موافق باد را تلو ته انتظار باسی.

بس! ډېر لږ ساعت وروسته، په دې خاموشه فضا کښې، د مينې او حسرت ديوورو ستی نظر نه وروسته به زه تاسې ته درشم. او په سمندر کښې به د سفر کوونکو نورو ملګرو سره يو ځای شم.

ACKU

او نه! ای لوبه سیندهاای بیده ښاماره!

نه! چه همستا پهدې، دې بختوره غېږ کښې دچینواوسیندونو آزادی نصیب اوپهبرخه شوې ده.

زهتاسرهددې خبرې رعدهاوقول کوم چه:

بخواله‌دې چه‌ستادسیند دڅوندانه دااو به بوڅو قدمه وړاندې ولاړې شی اوبا به دې سمسورو ورشو ګانو اوځمکو کښې خپلو نغموتهادامهور کړی.

زهبه‌تاته‌بیرته‌راشم! داسې لکه‌څنګه‌چه‌بوډېر کوچنی څاڅکی. بوډېر لوی بحرته راځی، هر کله چه دی بوڅو قدمه لېز وړاندې ولاړ، نوونې کتل چه له هرې خوانه ډېر خلك نراوښځې لوی اووړه‌دخپلو پټیواوځمکواوباغونوڅخه دښار ددروازې خوانه‌را ځغلی.

ده ددوی اوازونه اوزوږ واوریده.

دغوتولوددهنوم اخیستچېغې ئې وهلې. اوبوبل‌ته‌ئی دجهاز دراړسیدلو خبر ورکاوه.

دهدخپل زړه سره‌ووبل:

داد بیلتانه ورځ‌به‌دوصال ورځ شی؟

اوداخبره به رښتیا شی چه دازما ماښام زماسهار ؤ؟ اوزه‌به‌هغوخلکو ته چه زما دلیدو اوخدای‌په‌امانی له‌پاره ئې خپل کاروته‌پری ایښی او ما ته راتول‌شوی دی، څه‌شی ورکړی شم؟

آیا داخبره امکان لری؟ چه‌زما له‌دې‌غمجن زړه څخه‌دګلانوډ که سمسوره ونه‌جوړه شی، اوزه‌دغې‌ونې خوږې میوې‌په‌دوار ولاسونو به دغو خلکو وویشلی شم؟

ایا داخبره امکان لری چه زمادادوق دغره دبهاندی چینی به خیر به بهید لو بیل و کړی؟

اودغه خلك له دغوخوز واو بو څخه خپل خپل اوښی د ك کړی ؟

آیاله ماڅخه به چنګ جوړ نشی ؟

چه زما وجودته څوك لاس وروړی اودلاس دور وړلوسره سم له دغه تماس څخه دیوې خوږې موسیقی نغمی آواز په فضا کښې پور ته اوخپور شی؟

آیاداخبره امکان لری ؟چه زماله وجود څخه یوشپیلۍ جوړه شی اوڅوك چه دغه شپیلۍ پو کړی دهغو په روحونو کښې حلول و کړی .

زه دخاموشیو سره مینه لرم

خاموشی د کوم دولت نوم دی؟ زه بدنې چیرته مونده کړم؟اوبه خپل لاس ئې په خلکو و وېشم؟

که نن زما دفصل دلو کولو ورځ او نېټه ده،بایدزه دافکرو کړم چه ما به کرم پټی او کومه ځمکه کښې کوم ډول تخم کرلی اوشیندلی دی؟

اوبه کومه تېره شوې- اوهېره شوې زمانه کښې؟

که داهغه وخت اوساعت وی چه زه به دغه وخت کښې خپل قندیل پو رته کوم نو آیا به دې قندیل کښې هغه اور اورښاشته چه زما په وجود کښې ده؟

شاید چه دغه زما قندیل به بې نوره او تیاره وی او چه دغه قندیل پورته شی رڼا به ونلری،مګر ما نه داخبره معلومه ده چه دشپې محافظین اوڅوکیداران به په دغه قندیل کښې تیل واچوی اورو بڼانه به ئې کړی .

په دې صورت کښې به ددغه قندیل مشعله په آزاده فضاء کښې د بادو نو دزورورو څپو مقابله په ښه ډول و کړی شی؟

ACKU

ده دا تولې خبرې وکړی، مګر دده په زړه کښې نورې ډیرې خبری هم وې، چه هغه ئې و نه ویلې شوې اودا ځکه چه د ده به خپل راز و نه په خپله ژبه ښکاره کړی وای؟

هر کله چه دی ښار ته داننوت، نو تولو خلکو ده ته سلامونه وکړل. او تولو په یوه سلا په دې چیغو ګوټې پوری کړې.

دښار تول سپین ږیری او مشران په لومړی صف کښې ودریدل. دوی وویل:

اوس له مونږ څخه مه جلا کېږه!

اوس له مونږ نه لرې مه ځه!!

هر کله چه په مونږ د ماښام تیارو احاطه کړې وه، نو قازمونږ د ډیاره په دغه وخت کښې دځان سره دغرمې دلمر په څیر یوه ښکلې رڼا راوړه. او ستا ځلمی توب مونږ ته د ډیر ښکلی ښکلی خوبونه راوښو دل. ته په مونږ کښې نه کرم پردی او اجنبی سړی یې! او نه میلمه او مسافر!!

ته زمونږ اولاد یې! ته زمونږ ګران او محبوب یې! او س ته زمونږ سترګې دخپل خوږ دیدن څخه مه محرومی کړه!!

دغو شیخانو او مرشدانو ورته وویل:

ته داسې مه کوه چه د سمندر څپې او موجونه زمونږ او دخپل ځان په منځ کښې حایل کړی.

دخپل ګران ژوند هغه ښکلی دوره چه په مونږ کښې دې تیره کړې ده ماضی ته وسپارې، ستا دژوند ښکلی دوره په مونږ کښې دروح په ډول تیره شوې ده.

ستا وجود زموږ وجود ونه روښانه کړی دی . اوستا د نور نه ډکو چولی
زموږ تندی نورانی کړی دی موږ به تا سره ډیره مینه درلوده، مګر په
هغه وخت کښې چه ته دلته وې خو په هغه وخت کښې زموږ مینه
چپ او غلې په پرده کښې نغښتې او پټه پرته وه .

مګر نن چه ته له موږه بیلیږې ! نو هغه پټه مینه تر پردې دباندې
راووتله تاته چیغې او ناري وهی ، او ستا په حضور کښې بې حجابه ولاړه ده
اودا دود دی چه مینه ترڅو په پردو کښې پټه پرته وی چه د فراق او بیلتون
نغاری نه وی ډنګېدلې

مګر په کوم وخت کښې چه د فراق او بیلتانه د نغاری ډنګ د مینې
غوږو ته ورسیږی نو مینه د پردو نه دباندی راوزی

-٢-

په دی لړ کښې نور هم ډیر خلك راغلل او ټولو له ده څخه په ډیرو عذرو نو او
زارو سوالونه او پوښتنې وکړې . مګر هغه هیچا ته جواب ور نکړ .

هغه خپل سر ټیټ کړ او څو ړند سرو دریدا او کوم خلك چه دده په څنګ کښې
ولاړ وو ، هغوی پخپلو سترګو ولیدل چه دده له سترګو څخه دده پر ګریوانه
اوښکې رابهیږی .

لدې منظرې نه وروسته ده سره ټول خلك د خانقاه غولی (صحن) ته ننوتل.
په دغه خانقاه کښې د اعتکاف د خونو له یوی خونې څخه یوه ښځه دباندی
دغولي (صحن) ته راووتله چه عارفه نومېدله او ډېر عقل او بصیرت میرمن وه .
هغه چه دا ښځه ولیدله ډیره مهربانی او شفقت ئې ورسره وکړ ، دا ځکه چه
دا هغه ښځه وه چه ترټولو لومړی ئې دده په صداقت اعتراف کړی ؤ ، او دا

اعتراف دې په هغه وخت کښې کړی ؤ چه دغی جز یری ته دده دراتلو دوهمه ورځ وه.

دېښځې دوه ته وويل:

ای د بشپړی بوهې او جګ شخصیت خاونده!

ای دابتدأ نه خبر او دانتهاپه معلومولو یسی سر ګردانه غوره شخصیته!

د بره موده کیږی چه ستا نظراو ستر ګې دخپل جهاز په تکل کښې بوختې

اومصروفې دی، اواوس ستا هغه جهاز رارسېدلی اورا غلی دی.

اوته اورومړ و له دې ځای څخه تلونکی یې ستا په زړه کښې د وطن مینه

ډیره قوی ده اوستاپه زړه دوطن مینی استیلاء کړی ده.

هیوا د یعنی هغه ځا ی چه په هغه ځا ی کښې ستا تـږ لـو هیلو او

آرزو ګا نو تمرکز موند لی دی.

نو په دی صو ر ت کښې نه زمو نږ مینه تا لهٔ دغه کا ر څخه منع کولی شی.

او نه زمو نږ ضرور تو نه ستا په دغه مینه کو م تا ثیر کو لی شی.

مو نږ له تا څخه دو مر ه هیله لر و چه ته درخصتید لو نه و ړا ندې مو نږ

سره یو څو خبر و کړ ی.

مو نږ ته د خپل خدای ددر کړې اعلی حقیقت څخه لږه بر خه را کړه

مو نږ به ستا د غه د حکمت نه ډ که عطیه خپلو کو چنیا نو ته د اما نت

اویا د ګا ر په ډو ل و سپارو.

او هغوی به ئې خپلو کوچنیانو اولاد و نوته و سپا ر ی، په دې ډ ول

به ستا د غه اما نت دتل له پا ره زمو نږ په نسلو نو کښې خوندی پا ته شی

تا یه تنهائی او خلوت کښې زمونږ دژوندانه په ټولو چارو کښې فکر او مطالعه کړې ده ـ

تا په خپله بیدارۍ کښې مونږ داسې ساتلي او محافظ کړي یو، لکه څنګه چه یوه دېره ډېره او خواخوږې مور دخپل بیده کوچنی بچي ساتنه او نګراني کوي، او لکه څنګه چه دغه مور دخپل بیده کوچني بچي دژړا خندا او نورو اوضاعو مطالعه کوي، تا هم زمونږ د اوضاعو مطالعه کړې ده.

اوس ته مونږ ته زمونږ رازا او اسرار بیان کړه. او هغه څه چه تا په مونږ کښې لید لي دي، هغه مونږ ته ښکاره او بیان کړه.

د موت او حیات په منځ کښې،

ده ورته په جواب کښې وویل:

ای ددې ځای خلکو! زه تاسې ته بې له دې دبل کوم یو شي بیان وکړم، چه هغه اوس هم ستاسې په روحونو کښې لرزانه او متحرك دي.

عارفې ورته وویل:

مونږ ته دمینې په شا او خوا کښې څه ووا یه!

ددې سوال داو ریدلو سره سم ده خپل سر پورته کړ او خلکو ته ئې وکتل

دده د سر دپورته کولو په اثر پر ټولو خلکو خاموشي او چپ والی طاري شو.

ده په ډېر دروند آواز په دې وینا پیل وکړ،

هر کله چه تاسې ته مینه اشاره وکړي، نو تاسې وریسې ورځئ.

که څه هم په دغه لار کښې ډېر خنډونه او مشکلات هم وي.

او که وغواړي چه تاسې په خپلو وزرونو کښې ونغاړي، نو تاسې هم په ډېره مینه او خوشحالۍ په هغې پورې ونښلئ.

او که بالفرض په دغو وزرونو کښې یوه تېره توره پټه وي او د هغې په تېره شو که تاسې ژوبل هم شئ! نو تاسې د توري د دغې تېرې څوکې پروا مه کوئ! او مه د خپل ځان ژوبلېدلو ته کوم اهمیت ورکړئ. که مینه تاسې سره خبرې کوي نو تاسې د هغې په ټولو خبرو یقین کړئ!

که څه هم د دغو خبرو آواز ستاسې ټول خواهشات ارخوا زه خوبونه له تاسې څخه خیاره او منتشر هم کړي. داسې لکه څنګه چه د شمالي خوا باد سمسوري باغچې وړانوي؛

او دا خبره هم یاده ولرئ چه که مینه تاسې ته له یوې خوا تاج در په سر وي له بلې خوا تاسې په دار او سولۍ هم ورخېژوي. او لکه څنګه چه مینه ستاسې د روحونو باغونه سمسوروي، په همدغه ډول مینه وخت په وخت او موقع په موقع له دغو باغونو څخه د بېړې کاره وا ښه هم یوچې (للون) کوي،

هر کله چه دغه مینه ستاسې د زړونو دانه دوني څوکې نه ددې له پاره خیژي چه هغه ښاخونه او څانګې ښکل کړي چه د دغې ونې په څوکه کښې ئې د لمر دوړانګو په رڼا کښې د زماني باد و نه یوې خوا او بلې خوا ته ښورووي.

نو په همدغه وخت کښې دغه مینه د دغې ونې بېخ ته هم دې دپاره ور کښته کېږي چه هغه ريښې چه د ځمکې په سينه پورې د کوچنيو بچو په څېر نښتې دي وخوځوي او هغو ته يو تکان ور کړي.

که څه هم مینه تاسې خپل ځان ته داسې رانغاړي لکه څنګه چه د ونې او بوټي خپل ګلان او داني او نور شیان خپل ځان ته رانغاړي او ستاسې روزنه او پالنه کوي.

لیکن په مناسب وخت کښې هم دغه مینه تاسې له خپل ځان څخه ددې له پاره بېلوی چه تاسې لکه دونوا وبونو د محصول په خیر وخندلی شیء او په دې وسیله دیوی محدودې دائرې نه د ځمکې په مخ خپاره شیء.

او دادی دپاره چه تاسې له ځینو بیکارو موادو څخه پاك او صاف شیء.

له دینه وروسته دغه مینه تاسې اوړه (میده) کوی او دا ددې دپاره چه ستاسې حقیقی او پټ مغز دباندی راووزی.

له دینه وروسته ستاسې دغه مغز اغبزی، او دا ددې له پاره چه ستاسې په وجود کښې سلیش شیمه او پوست والی پیدا شی.

دینه وروسته بیا دغه اغبزل شوی مغز خپل مقدس اور ته ددی دپاره سپاری چه تاسې د اجتماعی ژوند په مبارك دستر خوان ځای و نیولی شیء او دیوې خوږې او مقدسې ډوډۍ مقام اشغال کړیء.

دا ټول کارونه په تاسې باندې مینه ددی دپاره کوی چه تاسې دخپل خلقت او دخپلو زړو نو په راز پوه شیء!

او هر کله چه تاسې په دغه راز پوه شیء، نو تاسې به دژوندانه په زړه کښې ځای پیدا کړیء او تاسې به د ژوند یو جزء و ګڼلی شیء.

لیکن که تاسې، له دغو مشکلاتو څخه و بیریدلاست، او تاسې په دې فکر عقیده پیدا کړه چه د مینې یوا ځینې محصول عیش او عشرت دی، نو په دې صورت کښې باید تاسې د معقولې مینې له حلقې او احاطې څخه ځان دباندې وباسیء! تاسې په دې صورت کښې، د مینې له حلقې او احاطې څخه ځانونه وباسیء او کومې داسې نړۍ ته ولاړ شیء چه په هغې نړۍ کښې د موسمونو هم

نه وی، او نه په هغه نړۍ کښې کوم نور (رنګ) او یا کوم ذوق او نه کوم د ذوق خاوند موجود وی .

په دغه ډول نړۍ کښې به هم تاسې خندا کوئ .

مګر ستاسې دغه خندا به کوم دوام ونه کړي .

ستاسې دغه خندا ګانې به نیمګړې پاته شی او نتیجه به ئې ویرونه او ژړا ګانې وی .

تاسې به په دغه نړۍ کښې ویرونه او ژړا ګانې کړئ ! مګر دغه ژړا به هم نیمګړې ژړا وی او داځکه چه په دغه نړۍ کښې به نه تاسې په واز کومې ژړلئ شئ او نه به د خپلو نا ثرانو د تقاضا سره سمې به آزادانه ډول خپلې او ښکې تو یو لی شئ .

مینه تاسې نه هیڅ نشی در کولی پرته د خپل ...!

مینه تاسې څخه هیڅ نشی اخیستلی پرته د خپل ...!

پرته د خپل هغه لطیف جوهر څخه چه هغه د دې خپل شی دی .!!

مینه نه پرچا قبضه کولی شی، او نه پر مینه څوك قبضه کولی شی. او داځکه چه مینه په خپله په خپل حقیقت کښې د خپل ځان د پاره پوره او کافی شی دی .

هر کله چه تاسې د چاسره مینه لرئ نو تاسې دامه وایئ : چه هغه زما په زړه کښې دی، بلکه دا وو ایئ چه زه د هغه په زړه کښې یم او تاسې هیڅکله په دې فکر او عقیده مه اوسئ چه هو تاسې مینې ته لارښوونه کوو .

بلکه مینه تاسې ته لارښوونه کوی، لیکن په دې شرط چه تاسې د حقیقی مینې په پیدا کولو کامیاب شئ او خپل زړونه د دې خبرې قابل کړئ چه حقیقی مینه په هغو کښې ځای ونیسی .

نو که په دې صورت کښې تاسې مینه کوئ ! او غواړئ چه د دې مینې په اثر

زمونږ هیلی او آرزو ګانی تر سره شی ! نو تاسی ځانونه اوبه کړیء ! دیوی بهیدونکی چینی په څېر چه دخپلو بهیدوپه ترڅ کښې دشپې په تورو تیارو کښې نړیدته خپلی نغمې اوروی.

د ښه وروسته په هغو دردونو هم ځانونه یوه کړیء چه په دغه چینه کښې ئې دبهیدلو اوبدلو ذوق پیدا کړی دی.

که دمینی په خصوص کښې تاسی ته څه معلومات حاصل شی ؟ نو تاسی په هغو ځانونه ژوبل کړیء.

او په دغو زخمونو به خوشحالی وکړیء. تاسې به په دغو زخمونو او تکلیفونو مست شیء ! او په هغو وښنو به چه دمینې له دغو زخمونو څخه بهیږی افتخار وکړیء.

دسهار په وخت کښې تاسی دخوب نه دمرغانو په څېر راوېښېږیء ! یعنی په دی ډول چه ستاسی زړونه الوتلو ته تیار او آماده وی ! او په دی خبره شکر کویء چه پاك خدای تاسی ته دمینی یوه بله ورځ در نصیب کړه !

دغرمی په وخت یعنی په هغه وخت کښې چه تاسی د کارونو څخه ستړی ستومانه راشیء ! او دمه کویء ! نو داستراحت په دې وخت کښې هم دمینی او محبت کیف دېر خوندور او خوږوی او په دغه وخت کښې هم تاسی له دغه کیف څخه خوند اخلیء ! ماښام چه ستړی ستومانه خپلو کورو ته راشیء ! نو په دغه وخت کښې هم تاسی دمینی داحسان ممنون اوسیء ! او دشپې په داسی حال کښې ویده کیږیء چه ستاسی زړونه خپلی محبوبی ته په دعا کولو بوخت اومصروف وی ! او ستاسی په شونډو دخپلی محبوبی دمدحی او ثنا رقاصه رقص اونڅا کوی.

ACKU

-۳-

بیاعارفی وویل :

زما اغا! دمیرو ښځی (مثلا کجت) په خصوص کښې ته څه فکرلري ؟

هغه ورته په جواب کښې وویل :

تاسی نراو ښځی سره یو ځای پیدا شوی یاست! او تل به یو ځای ژوندون کوئ.
په کوم وخت کښې چه د مرګ فرشته خپل وزرونه خپاره کړی او د خپلو
وزرونو په حرکت ستاسی د ژوندا پری په هوا کښې والوزوی
په دغه وخت کښې به هم تاسی یو ځای اوسیږئ ! دالاځه چه د کائناتو دخدای
په یاد کښې به هم تاسی سره یو ځای اوسیږئ .

مګر باید ستاسی په دی مسلسل اتصال کښې څه قدر ته فصل او بیلوالی هم وی.
دادي دپاره چه په دغه خلا او فاصله کښې داسمان آزاده هوا نڅاو کړای شی.
تاسی دواړه یو له بل سره مینه کوئ، مګر دخپل جنسی محبته څخه یو دبل
له پاره ځنځیرونه مه جوړوئ.

بلکه تاسی دواړه دخپلی مینی څخه یو متحرك سمندر جوړ کړئ. چه دغه سمندر
ستاسو دواړو دروحونو په منځ کښې داسی څپی وهی لکه څنګه چه سمندر
دخپلو دووغاړو او ساحلونو په منځ کښې څپې وهی.

تاسی دیو بل دپاره پیالی ډکوئ! مګر دواړه دیوی پیالی څخه او به مه څښئ!
او دیوی پیالی څخه خپلی تندي مه ماتوئ !

تاسی خپله نمړی (لقمه) یو بل ته سره ور کوئ! مګر دیوې ډوډۍ څخه نه بلکه
دهغی جلا جلا ډوډۍ څخه چه تاسې به خپله کښلی او پیدا کړې وی.

تاسی دبو بلبلانو غاړه کښې لا سو نه اچوی، نڅا کوی، عیشونه کوی او بدلی وایی.

لیکن سره ددې ټولو خبرو دیو بل څخه آزاد هم اوسیږی! په دی ډول لکه څنګه چه د یوه (رباب) دوه تارونه په یوه وخت کښې دیو راګ څخه لړزیږی لیکن دیوه بل څخه جلا اوسیږی.

خپل زړونه وبخښی، مګر یو بل ته نه.

داځکه هغه د قدرت لاس چه تاسی ته ئې ژوند درکړی دی ستاسی په زړونو دقبضې حق لری. دژوندانه په ټودو سړو کښې یو بل سره اوږه په اوږه دریږی!

مګر بالکل سره یو کیږی مه!

تاسی لکه دمسجد دستنو په څیر دچت دوزن او ثقل په پورته کولو کښې دیو بل سره مرسته کوی! لیکن دیو بل څخه جلا دریږی!

یا لکه دشاه بلوط او صنوبر په څیر چه په یوه باغ او یوه ځمکه کښې پیدا کیږی او په یوه ځمکه او یوه هوا کښې وده کوی. مګر د یو بل په سیوری کښې وده نشی کولی.

-۴-

بیا یوی ښځی چه په غیږ کښې ئې بچی نیولی ؤ و ویل

«مونږ ته د کوچنیانو په خصوص کښې څه ووایه!»

هغه ورته و ویل:

ستاسی دا بچی په حقیقت کښې ستاسی بچی نه دی. بلکه دوی په حقیقت کښې دحیات دقوت او د آفرینش دجذبې اولادونه دی.

دوی دهغه ژوندون اولادونه دی، چه ددغه ژوندون فطرت په خپله دخپلې ودې او نمو دپاره ئې ترا ره دی.

ACKU

که څه هم دوی ستاسی په واسطه دې نړۍ ته رالیږلی شوی دی، مګر دوی ستاسی ملکیت نه دی، تاسی دوی سره مینه کوی، او ځو مره چه مو دلاسه کیږی دوی سره مینه کوی، مګر دوی ته تاسی خپل تخیل مه ور کوی او مه دوی ته خپل افکار ور حواله کوی، ځکه چه دوی ستاسی تخیل ته ضرورت نه لری، او دوی دخپلو ځانو سره د پرزیات نوی تخیلات راوړی دی.

تاسی په خپلو خونو او کورو کښې دوی هوسا ساتی! لیکن د دوی معصوم روحونه آزاد پرېږدیء.

ځکه چه د دوی روحونه به په هغو کورو نو او خونو کښې استوګنه کوی چه د هغو نوم سبا (فردا) دی.

هغه کورونه د دې ماضی « نن » څخه د پرلوی دی چه تاسی به کښې ژوند کویء تاسی هغو کورو نو ته نشیء ورتلی! بلکه تاسی د هغو کورو نو خیال او تصور هم نشیء کولای. تاسی د دی خبری کوښښ کویء چه په دوی پسی قدم په قدم روان شیء! او ځکه چه ژوند بیرته نه راګرزی او نه (نن) د تیر شوی (پرون) سره دریدلی شی! ستاسی تولر مثال د هغو لیندو په شان دی چه غشی ور څخه د بچو په شکل جلا کیږی او په هوا کښې خپله لار پیدا کوی.

د دی غشو د ویشتلو او هدف په قوی تیرانداز او غشی ویشتو نکی ننداره کوی چه د غه غشی ویشتو نکی په خپل پوره طاقت د غه لیندی راکږی، او دادی د پاره چه د غه غشی د پر تیز او لیری ولاړ شی. د غه غشی ویشتونکی تل خپل غشی د مستقبل د فضا خواته ګوزاروی. نو تاسی د دې غشی ویشتونکی په لاس کښې په خپله خوښه ټیټ شیء.

داځکه لکه څنګه چه د غه غشی ویشتو نکی د غشو سره مینه لری هم د غه راز

دهغو لیندو څخه هم د بر خوشحاله دي چه هغه قوي او د بري مضبوطي وي .

- ۵ -

بیا د دغه ښاریو بدای و ویل :

«مونږ ته هم دور کړی را کړی او د خلکو سره د معاملې په خصوص کښې څه ووایه !!»

هغه ورته و ویل :

هر کله چه تاسي خپلې ځمکې او شته وېشیء !

نو دا کوم ملوی کار نه دی ؟

هو! که تاسی خپل ځانونه او خپل نفس و ویشیء! نو ستاسي دا کار به حقیقتاً د یر لوی کار وی او دغه • کار واقعي داداو بخښش دی .

ستاسي مقبوضات او ملکیت عبارت له څه شی څخه دی؟

پر ته له هغو شیانو چه تاسي تول عمر هغه (ساتلی او دهغو حفاظت او ساتنه مو کړې ده' او داله دی ویری چه چیرته دغه ستاسی راتول کړی شیان ضایع او بی ځایه نشي او سبا ورځ ستاسی په ښه راشی' او سبا ...؟

دخپل نفس د بر حرصناك سپی دپاره. یو ه تحفه محفوظه او تیاره وساتی' او د ضرورت په وخت کښې ئې دهغه حضور ته وړاندی کړیء دهغه سپی به خیر چه په یوه نښه توره میره کښې په د بر احتیاط یو څو هډو کی ښخ کړی وی' او پخپله په قافله پسې روان وی. له احتیاج څخه دومره ویره څه په کار ده؟

که انسان به دی موضوع کښې څه قدر ځیر شی نودغه د احتیاج څخه ویره په خپله احتیاج دی. د تندی ویره- په داسی وخت کښې چه ستا په کور کښې د تنه کوهی له اوبو ډك وی- په خپله په حقیقت کښې یو نه ماتیدونکی تنده ده .

ځینې داراز بدایان دی چه د خپلو د برو مقبوضاتو څخه لبږو د بر نور و خلکو ته هم ور کوی .
او دوی دا کار بوازی او فقط ددې له پاره کوی چه د اعتبار او نوم خاوندان شی .
ددوی دزړونو دغه پټ خواهشات ددوی دغه تحفی خوسا او بی کاره کوی .
ځینی داراز بدایان هم شته چه دهغوی مقبوضات نسبتاً د بر کم وی او هغه ټول نورو خلکو ته ور کړی او ځینی دارار دی چه هغوی په دنیا او ددنیا په نعمتونو ایمان راوړی وی او ددې راز خلکو څولی هیڅکله نه تشیبږی .
ځینی داراز بدایان دی چه خلکو ته ور کړه کوی او په دی ور کړو خوشالیږی او ددوی دغه خوشالی په حقیقت کښې ددوی دفیاضی انعام دی او ځینی داد ول دی چه خلکو ته ور کړه کوي اګر څه په خپلو دغوور کړو یسی خپه کیږی چه ددوی دغه خپګان په حقیقت کښې ددوی ددغه ریا کارانه عمل سزا ده .
او ځینی داسې دی چه بخښنه کوی او د بخښنی نه وروسته هغوی ته هیڅ قسم تأ ثر نه ور پیدا کیږ ی او نه په خپل دغه کار خوشحالیږ ی .
دوی دعقل او سنجش نه وروسته دغه کار کوی او ددوی دا عقیده وی چه دنیا دښېګڼی او ثواب ځای دی . او نیك عمل دنیکو خلکو برخه او حصه ده .
ددوی دور کړو مثال داسی دی لکه څنګه چه د(اکاسی) بوټی نه په یوه میره کښې دلاري په سر ولاړه وی ، او په د بره بی برو ابیه سره خپلی خوشبو یه وزمی په دواړه لاسه په فضاء کښې شیندی .
ددې ډول بدایانو لاسو نه دپاك خدای مرحمت سره لوبی کوی ، او پاك خدای ددوی په سترګو خپل مخلوقاتو ته ګوری اوخوشحا لی کوی .
که څه هم فقیرانو او سوال ګروته شی ور کول ښه کار دی

مګر د برښه او غوره کار دا دی چه بې له غوښتنې څخه په عقل او سنجش بې وزلو ته کوم شی ورکړ شی.

پاك خدای له دې نه چه چاته څه شی ورکړ شی په دې د ېر خوشحالیږی چه انسان په مستحق پیسې ورکړی او مستحق سړی مرسته ورکړه شی.

نو هغه شی چه تاسی ئې د سپما په ډول ساتیء، هغه څه شی دی؟

نو هغه شی چه تاسی ئې لریء هغه به تول یوه ورځ برخې برخې شی او په خلکو به وو یشلی شی.

نو نن ئې په خپلو لاسو نو ورکړیء.

دا ځکه چه په دی صورت کښې به په ځای د دې چه ستاسې وارثان دور کړو خوند واخلی تاسی به ئې په خپله خوند واخلیء.

تاسې اکثر داعذر کویء چه زه به خپل مالونه ورکړم مګر مستحق ته خو ستاسې د باغونو ونی او ستاسې دور شو ګانو ځاروی دا خیال او فکر نه لری.

د وی خپل هر څه او ځانونه دې دپاره ورکوی - چه د دوی د غه کار ددوی د ژوندون ضامن دی.

که دوی دغه کار ونه کړی نو د وی به فناشی.

په دې خبره کښې شك نشته چه کوم شیان په شپه او ورځ کښې برخه لری هغوی هم د دې مستحق دی چه له تاسې څخه ګټه او برخه واخلی. او هر څوك داحق لری چه د ژوندانه له سمند ر څخه خپله تنده ماته کړی. هغوی داحق هم لری چه ستاسې له دې کوچنی چینی څخه خپله تنده ماته کاندی او خپله پیاله ډکه کړی.

ACKU

تاسې ګوم حقیقت او حیثیت لری؟!

چه خلك تاسې ته راځی او دخپل عزت النفس څخه ستاسې په مخ کښی پردې پورته کوی. او دادې له پاره چه تاسو ته دهغوی استحکام ښکاره او دهغوی خوداری په خپلو سترګوو ګوری؟!

اول خو تاسې دی خبرې ته ځیر شی؟!

چه تاسې په خپله دهغه عزت مستحق شوی یاست چه د نورو حاجتو نه په تاسې ترسره کیږی ؟!

حقیقت دادی چه دژوندانه ټولی چینی یوه بلې ته اوبه ور کوی.

یو ژوند دبل ژوند سره مرسته کوی.

یو روح بل روح سره، او یو فطرت دبل فطرت سره. او تاسې چه خپل ځانو نه ډیر یوه او هوښیار ګڼیء تاسې په حقیقت کښی دژوندانه دور کړو راکړو او معاملو ناظران او ننداره چیان یاست.

ای شتمنو بډایانو! تاسې هم شتمن یاست او سائلان هم. تاسې د تشکر هغه دروند بار په خپلو اوږو مه اخلیء چه هغه سبا ستاسې او د اخیستونکو په څټو نو پورې د یوې بد شکلې سپیږی په څیر نښتی وی.

تاسې دخپل هغه ورکړو نکی (خدای) د نیت په څیر خپل همتونه داسې لوړ کړیء لکه څنګه چه یو کمزوری او رنځور انسان د یو قوی او روغ سړی په اوږو لاسونه ږدی او دهغه په مرسته پورته کیږی او داځکه چه که تاسې خپل همت لوړ نه کړیء!

وګوریا تاسې دخپل مهربانه خدای په فیاضی کښی شك لری، او داخو مره بده خبره ده چه تاسې ته پاك خدای بې سواله او بې غوښتنې درکړی دی او تاسې ئې په سوال او غوښتلو چاته ورنه کړی ؟!

-٦-

بیا بوه زاړه ښکرو ویل:

«مونږ ته هم د خوراك او څښاك په شا او خوا کښې بو څو خبری وکړه!»

هغه ورته وویل:

ښو مره به ښه وای چه که تاسې هم بې د خوړلو څښلو څخه بوا ځې د ځمکې په بوټو داسې ژوندون کولای شوای!

لکه څنګه چه ونه د لمر د رڼا په جذبولو ژوند کوی . لیکن که ستاسې فطرت تاسې دې کار ته اړ کوی چه د نورو ژوینو په ځکلو او د نورو د غوښو په غذا ژوندون وکړیء .

که تاسې دې کار ته اړ یاست چه خپله تنده په دې ما ته کړیء چه د لنګو شاروو شودې وڅکیء، او د هغو کوچنی اولادونه وزی پریږدیء.

نو په دی صورت کښې تاسې دا راز بو کارو کړیء چه: د غه کار په اثر ستاسې د نه کار به عبادت کښې داخل شی.

ستاسې له دسترخوان څخه بو قربانګاه جوړه شی، چه په دغه دسترخوان د ځنګله او صحرا معصوم او پاك مرغان ستاسې د پاکو وجودونو نمڅ د شی. نو په کوم وخت کښې چه تاسې د یو حیوان په غاړه چاړه ږدیء، نو په دغه وخت کښې په خپل زړه کښې داخیال کویء چه هغه قوت او قدرت چه تا حلالوی ماهم حلالوی، او زه هم تا غوندی فنا کیدونکی یم.

لکه څنګه چه د قدرت قانون ته زما غذا کړی ئې زه به هم د یوه قوی شی غذا شم ستا او زما وینه پر ته له دې بل کوم حقیقت نه لری چه دغه وینه ستا او زما

ACKU

PROPERTY OF ACKU 32322



د رګونو څخه وزی او ستا او زما په وینو د فطرت د باغ د ونو څخه بله یوه ونه خړوبه شي.

او د یو بل تن ژوندور باندې تقویه شي. او یا ور باندې د یو بل چا کمزوري وجود قوي شي.

او یا د بل چا په رګونو کښې حرکت وکړي.

که تاسې منه او یا کومه بله میوه په خوله کښې اچوئ، نو په خپلو زړونو کښې دا وایئ چه: ستا تخم به زما په وجود کښې تل تر تله او د همیشه له پاره شین او سمسور اوسي.

ته به زما په زړه کښې تل تر تله تاند او ژوندی ووسې او ستا غوټۍ به په راتلونکو وختو کښې زما په زړه کښې وغوړېږي.

ستا وږمې به زما په ذریعه په نړۍ کښې خپرې شي.

او په دې ډول به مونږ دواړه - زه او ته - د یو بل سره په ژوندانه کښې سره شریک شو او ژوند به کوو.

او زمونږ دواړو تخمونه به د آسمان بادونه په توله نړۍ کښې خپاره کړي.

او له دې تخمونو څخه به د منو او نورو میوو بې شماره باغونه او ځنګلونه د ځمکې په مخ شنه او راپیدا شي!

په کوم وخت کښې چه تاسې په منۍ کښې د خپلو باغونو کور (انګور) د دې له پاره سره راټول کړئ چه له هغو نه شراب جوړ کړئ نو په خپلو زړونو کښې دا فکر او خیال کوئ چه زه هم د کورو (انګورو) یو باغ یم او زما وجود هم د کورو (انګورو) یوه باغچه ده.

اوزما وجود به هم بیو ورځ ددې له پاره تونې توتې شي چه شراب و رڅخه جوړ شي.

او د شرابو په څیر به زه هم یوه ورځ په یوې چاټۍ (خم) کښې و اچول شم.

هر کله چه په ځمکه کښې د شرابو دغه چاټۍ او خومان پرته کړل شي، نو د دغو شرابو ډېری پیالې سره به ستاسې د روح په اعماقو کښې یو داډول موسیقي ترنم او نغمه پیداشي چه ناسې به دهغو په اورېدلو مست او نشه شيء او ناسې به داراز مست او نشه شيء! چه په خپله دغه مستۍ کښې به فنا ته چمتو (آماده) شيء! ناسې د ترنم په دغه وخت کښې د مستۍ او خزان تیرې ورځې رایه زړه کړيء!

د کورو (انګورو) باغونه رایه زړه کړی! او دا خبره هم رایه زړه کړیء چه په کوم ډول ورڅخه په کوم ډول شراب جوړ یږی. لکه څنګه چه د انګورو شراب دی هم دغه ستاسې شراب هم دی! او دا خبره هم باده ولریء چه سبا به ستاسې په ځای دې ځای ته نور خلك راځی او د شرابو محفلونه به جوړ وی! او هغوی به هم لکه ناسې له کورو (انګورو) نه شرابو نه و باسی او له ینه ورو سته به په خپله د هغو شراب د نورو د پاره وېستلی شي.

لکه څنګه چه د نورو د هډو نو د خاورو نه هغوی پیالی جوړې کړی دی، د هغو ی د وجود نه به نور هم پیالی جوړی کړی.

-۷-

بیا یو دهقان «بزګر» وویل:

«مونږ ته د زیار او زحمت په خصوص کښې څه و وایه!

هغه وویل:

تاسی دې دیاره زیارونه او زحمتونه ګالی ؟ ! چه تاسی د ځمکی او زمانی سره چه د ځمکی روح دی قدم په قدم تګ و کړای شی ؟ تو له دې کبله ستاسی دپاره لټی او تنبلی داسی مثال لوی لکه چه تاسی د نړی د موسمو نو څخه قطعاً خبر نه یاست ! ؟

د دې ډول خلکو مثال داسی دی لکه چه د یوی داسی د بری بڼی او لو بی وراخخه وروسته پاته شی چه د یو ګران وجود خواته روانه وی .

هر کله چه تاسی په خپل کار او زیار بوخت یاست نو په دغه وخت کښی له تاسی څخه یوه شپیلی جوړه شی .

داسی شپیلی چه د هغی د زړه له خوږو نغمو څخه او آواز او لا زوال موسیقی څخه په انسانی نړی کښی ژوند او روح پیدا کیږی ' آیا ستاسو په ډله کښی به داسی څوک وی چه هغه د نړی په ټولی نیستان او درګو کښی د ځان څخه یوی آوازه کښکی او یا او ښه او خپله چوپه کړی ؟

ستاسی په مغزو او فکرونو کښی ځینو ناپوهو خلکو دا مفکوره ځای کړی ده چه زیار او زحمت یو لعنت او د زیار و ګالل یو مصیبت دی .

مګر زه تاسی ته په جګ آواز داوایم چه په کوم وخت کښی چه تاسی په زیار او زحمت بوخت او مصروف یاست نو په دغه وخت کښی تاسی د کائناتو هغه جګ او عالی مقصد او مرام تر سره کوی ! د کوم مرام او مقصد د ترسره کولو له پاره چه تاسی د هغی ورځی نه نامزد او ټاکلی شوی واست ! په کومه ورځ چه د دغه عالی او جګ مرام مفکوره میدان ته راوتلی وه .

او په دې خبره کښی شک نشته چه هر چا چه د زیار لمن و نیوله هغه د ژوندانه لمن و نیوله . او د زیار په واسطه د ژوندون ښایسته کړل په حقیقت کښی

دژوندانه دجګورازونو څخه دځان خبرولو يوا ځنی ذريعه ده .

ليکن که تاسی دخپل تکليف په حالت کښې ، د خپل پيدايش زحمتو نه اوصعوبتونه اودژوندانه بې وزلی . بولعنت اوبدشی ګڼئ ءچه ستاسی په قندو باند ی ليکل شوی دی .

نوزه تاسی ته وايم چه دغه بدليک برته ستاسی دتندی دخواونه په بل شی نه منځل کيږی .

تاسی ته خلك وائی چه ژوند يوه تياره ده . اوستاسی بی عملی اوتنبلی تاسی دبې عملو اوتنبلو خلکو سره يوشان اوهم آوازه کوی .

هوا رښتيا چه ژوند يوه تياره ده . زه هم داوايم . مګر .. په کوم وخت کښې په هغه وخت کښې چه دده طلب وی .

اوطلب تل ړوند دی . مګر .

چه علم وی ، اوعلم هم خودبين . مګر چه زيار اومحنت وی ، اوهغه هم بې حاصله اوبی نتيجې مګر - چه محبت وی !

او تاسی يوالحی دمينې اومحبت له کبله زيارونه باسی ءانو په دې صورت کښې تاسی خپل ځان دخپل اوخپل ظاهر ی وجوددخپل باطنی وجودسره اوعامل له ازل سره تړی .

محبت سره محنت کول څه شی دی ؟

داسې دی لکه چه تاسې دخپل زړه تار ونه راواخلی ءاو د هغو څخه کالی واوبدیء !

اوداددي لهياره چه دهغیڅخه ستاسې دګرانی معشوقې له ياره کالی

ACKU

جوړ کړل شي .

او داسې دې لکه چه تاسې دخپلې ګرانې معشوقې داستو ګنې دیاره یو ځای ورانوی ؛ او دهغه ځای دخښتو او خټو دپاره تاسې خټه په خپلو پښو خیشته کړې ؛!

یا داسې دې لکه چه تاسې دخپلې ګرانې معشوقې دپاره د ځمکې په مخ دول دول تخمونه شیندلی ؛! او یا دمیني په نښه کښې د وب دهغې دپاره لو کوی ؛ یا داسې دی لکه چه تاسې ټول کائنات په خپل سر ودانوی ؛ او په دغه وخت کښې تاسې په خپلو ستر ګو ګورې ؛! چه ستاسې ټول اعمال او زیار و نه له تاسې څخه چاپیر و لاړ دی او ستاسې د کامیابۍ او بریالیتوب ننداري کوی ؛

په تاسې کښې ماد ځینو خلکو څخه ځینې خبرې اورېدلې دی او هغه داسې خبرې دی چه د هغو په او ریدلو زما دا خیال وشو چه د وی په خوب کښې د ځان سره غږیږی . او هغه خبرې داوې چه ځینو ویل : هغه څوك چه د مرمر و له تیږو څخه ښکلی مجسمې جوړوی او په دغو مجسمو کښې دخپل فن په زور خپل روح ننه باسی دهغه چا څخه د بر جګ مقام او قدر لری چه هغه یوازې دځمکې په کیندلو یو خت او د بز ګری کسب کوی .

او هغه رسام چه دخپل فن په زور د اسمان د جګې فضا څخه قوس قزح (سره زرغونه) د کاغذ په مخ را کښته کوی . او یاد کاغذ په مخ د خپل فن په یو د پر لیز رنګ کښې انسانی خصوصیات او بڼه پیدا کوی دهغه شخص په نسبت د بر جګ مقام او لوړ حیثیت خاوند دی چه د څرمنو او نورو شیانو څخه دانسانانو د استعمال دپاره پڼې موچنې ، څپلۍ او بوټان او نور شیان جوړوی

مګر زه بیده نه یم، او نه په شپه کښې له تاسې سره خبرې کوم ـ زه په دې ټکنده غرمه کښې په دې حال کښې چه ویښ یم او فکر می هم ښه برابر دی تاسې ته په جګ آواز وایم چه: هوا د شاه بلوط د ښکلي او عظیم الشاني ونې په شان او خوا کښې هم ډېر ډول ډول بې اهمیته واښه زرغون او ولاړ دي.

مګر دغه ډېر جګ فضیلت او حیثیت خاوند هغه څوک دی چه د فضا هوا د مینې په زور په اسمانی موسیقی بدله کړی.

محبت په حقیقت کښې د محنت یو مهم مظهر دی ـ په هغه شکل کښې چه په سترګو ښکاره یږی! او محبت یو جسم دی چه د دغه جسم روح (محنت) دی.

که تاسې د محبت له کبله محنت په ځان نشئ ګاللی بلکه محنت ته د مادی شیانو او یواځې د ډوډۍ د پاره اوږه ورکوئ نو په دې صورت کښې به دا کار ستاسې له پاره ډېر ښه وی چه خپل ټول کارونه په ځای پرېږدئ او د مسجد په دروازو کښې کښېنئ او له هغو خلکو نه سوال وکړئ چه د خپلو کارونو څخه په ډېره خوشحالۍ د خپل خدای د یاد او لو د پاره دغه ځای ته راځی.

که تاسې د خپلې وظیفې سره مینه نه لرئ په کراهیت او یواځې د ډوډۍ د پاره خپله کومه وظیفه اجرا کوئ نو تاسې به دې حقیقت یوه شئ!

چه دغه ډوډۍ ډېره بې خونده او داسې خرابه ډوډۍ ده چه په دې ډوډۍ یې ته د هغو اشخاصو څخه چه د انسانیت د مفهوم څخه ډېر لرې وی د صحیحو انسانانو د لوږې اور نشی مړ کولی، او په داسې ډوډۍ یواځې د هغو خلکو د لوږې اور مړی چه له انسانیت څخه ډېر لرې او نش په صورت او ظاهری شکل انسانان وی. که تاسې د کورو (انګورو) وښکی او دانې

په مینه او خوشحالۍ سره نشه ځپلي نو تاسې به دې حقیقت پوه شئ چه دغه شراب به د زهرو نه ډك اوډېر ناكاره شراب وي دا ځكه چه ستاسې د غه دوظیفې سره بې علاقه ګۍ به زهر شي او په دغو شرابو كښې به ګډه شي او كه تاسې د اسمان د ملایكو په شېر اسماني بدلې هم ووایئ! لیكن كه ستاسې په دغو اسماني بدلو كښې د مینې او محبت چاشنې نه وي ، نو په دغه صورت كښې به ستاسې له دغو آسماني بدلو څخه ما لوچ جوړ شي او دخلكو په غوږونو كښې به وتومبلې شي ، او دادې دپاره چه خلك ستاسې دغه له مینې څخه خالي غږ وانه وري .

بیا یوې ښځې وویل : « مونږ ته دغم او خوشحالۍ په باب كښې څه ووایه ! »

هغه ورته وویل ! ستاسو خوشحالي په حقیقت كښې ستاسې هغه غم دی . چه اصلي نقاب ورڅخه بېرته شوی او په خپله حقیقي بڼه ئې تاسې ته ځان ښكاره كړی دی .

هغه كوهی چه د هغه څخه ستاسې د خندا ګانو اوازونه بېرته انعكاس كوي ، هغه كوهی دی ، چه ستاسې د اوښكو څخه ډك شوی دی :

كه داسې نه وي نو بیا به له دې څخه بل څه شی دی ؟

څومره چه غمونه چه ستاسې په زړونو كښې ځایونه نیسي په هغه اندازه ستاسې په زړونو كښې دخوشحالیو دپاره ډېر ګنجایش او ځای پیدا كیږي .

آیا هغه پیاله چه نن تاسې د شرابو څخه ډكه كړې د ه هغه پیاله نه د ه ؟ چه څومو ده وړاندې د كولال په بټه كښې به اور كښې پرته وه !

آیا داشپیلۍ چه نن د هغې نغمې او خوازه آوازونه ستاسې په زړونو او روح كښې خوشحالۍ او تسكین پیدا كوي د لرګی هغه نو ټه نه د ه ؟ چه څه موده

وړاندې په ارو او تر خځو (تیشو) نوزل شوی او بیر ټکری شوې او په برمواودو سپینې په نورو آلاتو دهغې سینه سوری شوی وه؟

په کوم وخت کښې چه تاسې ډیر زیات خوشحاله شیء! نو په دغه وخت کښې تاسې به خپل زړه کښې ځیرې شئ او فکرو کړیء! د دغه غور او فکر په لر کښې به تاسې دې نتیجې ته ورسیږئ چه کوم شی چه ستاسې دغم او خپگان باعث دی، هغه ستاسې دخوشحالۍ باعث هم دی. هر کله چه تاسې ډیرې خپه شئ نو په خپل زړه کښې ځیرې شئ او فکرو کړیء.

په دې لر کښې به تاسې ته داخبره ښکاره او معلومه شی. چه په حقیقت کښې تاسې په هغه شی پسې خپه یاستئ! چه هغه ستاسې دخوشحالۍ باعث دی.

په تاسو کښې ځینې خلك داعقیده لری چه خوشحالی دغم نه ښه ده او ځینی داعقیده لری چه په اغم دخوشحالۍ نه ډیر ښه دی.

لیکن زه تاسې ته وایم چه دا دواړه په خپلو منځو کښې ناقابل تفریق او ناقابل امتیاز دی.

دغه دواړه یو ځای راځی. یو چه ستاسې په دسترخوان کښېنې! نو تاسې په دې یقین ولریء چه بل به ستاسې په بستره کښې بیده پروت وی.

دا یوه منل شوې خبره ده. چه ستاسې مثال دتلی دډ نډې په شان دی چه ستاسې په یو سر او بل سر پورې دغم او خوشحالۍ دوه متضاد چابری ځړندی.

هر کله چه دژوندانه خزانه دار دغه تله په لاس کښې واخلی او په دغه تله دخپلو سرو او سپینو زرو په تللو پیل وکړی. نو په دغه وخت کښې دغه دواړه چابری په خوځیدو پیل کوی.

او ددغو چابرو ډنډی دخزانه دار په لاس او قبضه کښې وی.

-۹-

بیا یوه‌معمار راوړاندې‌شو!

«هغه وویل : موږ ته دردانیو په‌شااوخوا کښې څه‌خبرې‌وکړه »

هغه‌مسک شو اوپه‌مسکی توب کښې ئې‌وویل:

په کلیو اوښارونو کښې دکورونو له‌ودانولو نه پخوابايد تاسې په‌خپلو تصوراتو کښې یوباغ جوړ کړیء، اوداځکه چه‌لکه څنګه چه ستا سې جسم دمابنام په‌وخت کښې خپل کورته راځی، هم‌دغه‌شان‌ستاسی آواره‌ګرد روح هم‌دخپل تېکاواستو ګنی دپاره‌ځای پلټی.

ستاسې اصلی کورستاسې جسم‌دی،

چه‌دلمر په رڼا کښې وېښ وی‌اودشپې‌په خاموشۍ کښې ‌بیده کیږی ستاسې په دغه جسم کښې دخوبونو یوه‌نړۍ (عالم‌رؤیا) بنده‌ده.

آیا تاسې‌ته داخبره معلومه‌ده‌چه‌ستاسې‌په‌دې کور کښې خوبونه نه لیدلی کیږی؟.

آیا دکور هغه‌اوسیدونکی چه‌ښاراوودانۍ نه دباندې دغرونو اوو غو خواته ځی، نو هغه په داسې حال کښې ځی چه‌هیڅ خوب به‌ئې نه‌وی‌لیدلی؟ کشکی چه ستا سې تولوا جسام ما په خپل موټی کښې راټولولای اوبیا می ددغه‌ټولو څخه یو جسم جوړکړی

ددغو تولو اوبز ګرپه‌خپر می په ځنګلونواو ېنیواوغرورغوا ولوړواوژورو کښې‌شیندلی‌وای. کشکی چه دغرونو درې‌ستاسې‌سړکونه‌وای او‌ستاسې‌دتنګ‌ راتنګ‌تولی‌لاری دشکلو باغونو په‌څیر سمسورې وای.

اودادې‌له پاره چه‌تاسودونو اوانګورو‌په‌دغوسمسوروباغو کښې دیوبل‌سره پېژندګلوی اومینه‌پیدا کړې وای. اوپه کوم وخت کښې‌چه ماښا م خپلو

کورونو نه ستری ستوما نه بېرته راتلای نو دخپلو ځانو سره مو دځمکې او خاورو خوزې وزمې راوړی وای.

مګر اوس دا کارنشی کېدلای. دا ځکه چه ستاسې پلرونه او نیکونه دا سې بېر بدلی وو.

اوله ډېرې بېری داسې وارخطاشوی وو چه هغوی خپلو اولادونو ته دا خبره بنودلی او ورزده کړې ده چه دخپلو پلرونو او نیکه نو په څنګ کښې ژوند کوی ء!

بو څوورځې به داو بېره نوره هم باقی وی.

بو څوورځې به نور هم ستاسې دقلاؤ دېوالونه ستاسی او ستاسې د فصلونو او باغونو په منځو کښې حایل وی. ای دعرفې خلکو! تاسې مابوه کړی ء! چه ستاسی به دې کورونو کښې څه دی؟

ستاسو به دغو کورونو کښې کوم ګران اوذی قیمته شیان دی چه تاسې دهغو دحفاظت دپاره د کورونو دروازونه پاخه پاخه قلفونه وراچوی ء؟

آیا تاسی ته دزړه ډاډ درحاصل شوی دی ؟

یعنی دطلب هغه ذوق چه هغه ستاسې دقوت ډېر لوی مظهر دی؟

آیا ستاسې به زړونو کښې دماضی خاطرات شته؟ یعنی هغه قوت چه دزړونو جګې هیلې دیوې بلې سره داسې یو ځای کوی لکه څنګه چه یو بل دسیند بوه غاړه له بلې غاړی سره یوځای کوی.

آیا په تاسو کښې حسن شته؟ هغه ازلی حسن چه زړونه د ګټو او نېږو څخه جلا کوی، او دیو مقدس غره خواته ئې وړی.

مابه دې بوه کړی ء! ستاسو به کورونو کښې داسی کوم جنس شته؟ او که نه

او که له تاسو څخه بې له دولتۍ او تنبلۍ څخه هیڅ هم نشته تاسې به دې بوه شئ ! چه عیاشي دغه غله نوم دی چه اول ستاسې کورونو ته دیوګران میلمه په حیث راننوزی او وروسته بیاد کور خاوند او تاسې دده میلمانه شیء او څه مودې وروسته د کور حقیقي خاوند دی شي او ستاسو په کور قبضه وکړ ی بیا دی تا سو سره لوبې او ساعت تیری کوی، او ستاسو د جګر خواهشانو او هیلو په لوبو لو پیل کوی، بیا ستاسو په وهلو، ټکولو او تړلو پیل کوی.

که څه هم دده لاسو نه دور پښمونه پاسته دي، مګر زړه ئې د فولادو نه کلک دي.

دی تاسی ته خپلې خوزې بدلې د دې له پاره اوروی چه د هغو په اثر تا سو د کړ چنیانو په څیر بیده کړی.

او دادې له پاره چه ستاسو د بیده کیدلو نه وروسته دی ستاسو د بستر و په خوا کښې ودرېږی او ستاسو د فانی جسم به کمزور یو بوري په واز کومی وخاندی.

دی ستاسو په سلیم عقل پورې خندا کوی، او دی دا کوښښ کوی چه ستاسو دغه سلیم عقل به نرمو او پستو پردو کښې داسې ونغاړی لکه څنګه چه خلک د چیناتو نازک لوښی په نرمو او پستو ټوکرانو کښې نغاړی.

حقیقت دادی چه دعیاشی او آرام طلبی طلب او تمنا د انسان اعلی جذبات وژنی او خاوری کوی بی لیکن سر ود دې د غې جنازی ته، دی په ډېره خوشحالی او خندا او زه ور کوی،

مګر ای ددې بسیطې فضا کوچنیانو! تاسې چه د سکوت په حالت کښې مضطرب کیږیء نو په دغه وخت کښې به تاسو څوك نیولی شی او نه موغو لولی شی، ستاسو کور بابد دژوند د جهاز لنګر نه وی.

او نه دلنګر په شان قایم او په ځای ولاړ!

بلکه باید ستاسو کورونه بادبان وی. او د بادبان په څیر متحرک! او دا ددې دپاره چه د اسمان آزادې هوا ګانې، ورسره لوبې و کړای شي.

باید ستاسو کورونه د زخم د پاسه لاوینو، زوو څخه ډک پوستکی نه وی.

بلکه د ستر ګو نرۍ پردو وی، چه د ستر ګو حفاظت و کړای شي.

ستاسې د پاره دا خبره ضرور او لازمه نه ده چه کورته د ننو تلو په وخت کښې د دروازو پر دې پورته او یا خیل سرونه کښته کړیء، ددې له پاره چه سرونه مو په چت او یا دروازه و نه لګیږي.

او نه ستاسو سره ددې خبرې فکروی، چه که زه په زوره ساواخلم نو ددې ساپه اثر به زما د کور دیوالونه و چوی.

تاسو باید په هغو قبرونو کښې ژوندون و نه کړیء، چه مړو ستاسو د ژوند له پاره جوړ کړی دی.

ستاسو کورونه که هر څو مره شاندار، ښکلی او مضبوط وی مګر سره د دغو ټولو خبرو دغه کورونه باید ستاسو صادق طلب په خپلو دیوالونو کښې بند او محصور نه کړای شي.

داځکه چه ستاسو په وجود کښې پاک خدای بیدار او بې حده او بې نها یته جوهر ایښی دی چه هغه، د اسمان په وسعت کښې ځای او مقام لري.

ددې کور دروازه د سهار رڼا ده.

او د شپې د موسیقی په ډک سکون کښې ځلاند ستوري، ددې بچې دی!

-۱۰-

بیا یوه‌جولا وویل:

«مونبز ته دلباس‌په شااوخوا کښې څه نکتې بیان کړه!»

هغه‌وویل:

ستاسو کالی ستاسو په حقیقی‌حسن باندې پردې‌غوړوی، او هغه‌حسن دخلکو له نظرڅخه پټووی.

کالی ستا سې حسن پټوی، لیکن ستاسې دوجود عیبونه‌او بدی نشی پټولی.

سره‌ددې چه‌تاسې خپل وجودونه په کالیو کښې پټ کړی دی، تا سې هغه آزادی‌هم غواړیء چه‌هغه‌آزادی دخفأ په‌پرده کښې‌هم تاسې‌ته‌په‌لاس درتللی او حاصلیدلی شی، لیکن حقیقت دادی‌چه ستاسو کالی په‌ځای‌ددې چه تاسې‌ته په خپلو پر دو کښې دننه‌د آزادی‌موقع در کړی‌ستاسوله یاره‌له دغو کالیو څخه‌زولنې او ځنځیرونه جوړ شی.

ارمان‌چه د کالیوموانع یاخوړ پرلبز وای‌او یائې قطعاً وجودنه درلودلای.

ستاسووجود ونودلمراوهوا سره‌یې له کومې وا سطې تماس درلودلا ی.

او ستاسووجودونه‌دلمردوړانګو او آزادې هواسره اشنااوماتوس‌وای دا ځکه‌نفسی حیات‌عبارت دلمردوړانګو څخه‌دی.

او دژوندانه قوت‌په‌آزاده هوا کښې پټ دی.

په‌تاسو کښې ځینې‌خلک دا نظر په لری، چه شمال، بادونه‌او دموسمونو تغیر مونږ د کالیو اغوستلوته اړ وی او له‌دې کبله‌مونږ کالی‌اغوندو!

هو! زه‌هم داخبره‌منم‌چه دغوشیانو تاسې د کالیو اغوستلوته اړ کړی یاست!

مگر هغه د دغو کالیو سپنسی د بې شرمۍ په څرخه ور پښلی او په دغه وسیله ئې د ژوندانه د قوت ټول اعصاب او یلې بې کاره او سستې کړی او په دغو تا رو نو کښې ئې گډې کړی دی.

هر کله چه باد و نو او شمالو نو ستاسو فاسد حجاب ته کالی ور واغوستل، نو هغه ځنگل ته ولاړ او په واز کومی ئې وخندل!

داحقیقت هیرنه کړی ء! چه هغه شرم او حجاب په د جسم د لباس او بر بنډ والی سره تعلق لری، بو الحی د گناهگارو او بد ستر گو خلکو د سر گو د پاره یوه پرده جوړه شوی ده.

که ستاسی په وجود و نو کښې گناه او بدی نه وی نو په دې صورت کښې د شرم او حجاب دا مصنوعی پردې څه معنی لری ؟

بې له دې چه دغه ستاسو کالی نش د فطرت د آزادیو د تړلو د پاره یو ځنځیر، او د گناه یو ډول تا رو غتیا وی چه پاك زړو نه ناپاك او ایما ن خرا ب، او د انسان پاك فطرت ککړ او آلوده کړی .

داخبره یاده ولری ء ! چه:

په کوم وخت کښې چه تاسی پښې ببله په ځمکه گرزی ء! او ستاسو د پښو تلی په ځمکه لگیږی، نو په دغه تماس ځمکه ډیره خوشحالیږی .

د صحرا هوا داهیله لری، چه ستاسو دلو څو ویښتانو سره لوبې و کړی .

-١١-

بیا یو سودا گر وو بل :

« مونږ ته د خرید او فروخت په خصوص کښې مشوره را کړه! »

هغه ورته وو بل :

تاسو ته ځمکه خپلی ټولی میوې او نور ټول محصولات او پیداوار د نذر په ډول در کوی .

ACKU

نو که تاسې دځمکې له دغو نذرو نوا و هدایاؤ څخه خپلې لمنې ډکې کړۍ نو په دغه صورت کښې به تاسې هیڅ کله چا ته اړ او محتاج نه شۍ!

که په تاسو کښې ددې خبرې صلاحیت هم پیدا شو چه دغه خدای ورکړی نذرو نه او هدایامو په خپلو منځو کښې وویشلای شول. نو په دی صورت کښې دا یقینی خبره ده چه تاسو به دهمیشه دپاره دهر ډول احتیاج څخه محفوظ او تل به هوسا ، ماړه اوبې اوسۍ!

لیکن په دی شرط چه ستاسو په منځو کښې دغه ویش او تبادله دمینې او انصاف په اساس وی ، اوپه دی خبره کښې هم شك نشته چه په تاسو کښې به ځینې حارصان اوبې انصافه خلك هم موجود وی ، لیکن دا هم یومنل شوی حقیقت دی چه په دغه صورت کښې په تاسو کښې ډېر خلك داراز پیدا شی چه هغوی به بربنډ، لغړ او ډیر بې وزلی وی.

ای هغو خلکو! چه: تاسو دسمندر په څپو او دځمکې په مخ په پټیو او باغونو کښې په زیار او کار بوخت یاست!

هر کله چه تاسو په بازارونو کښې دجولا ګانو اوبزازانو او هغو خلکو سره چه لوښې او نور اسبابو نه جوړوی مخا مخ شی . او د هغو سره په معاملو او تبادله پیل کوی. نو اول دخپل مولا یعنی هغه پاك خدای نوم وا خلی! چه دهغه په لاس او قبضه کښې دنړی د ټولو معاملو حسابونه دی ، اودغه ټول حسابونه په خپل کامل قدرت لیکی .

بیا هغه ته پام وکړه او صافه کړی! چه د هغې په ذریعه تاسې معامله کوی او دقیمت په مقابل کښې جنس او دجنس په مقابل کښې یو بل ته جنس او قیمت ورکوی .

په دی موقع کښې تاسې دهغو چالاکو او طرارانو چالاکی ته ښه ځیر شی

چه هغوی په‌خوږو الفاظو او چالاکیو ستاسو د نېر ایستلو کوښښ کوی، او غواړی چه ستاسی دزیار او زحمت په‌معاوضه کښی تاسی ته خیلی چالاکی او غوړی خبری در کړی.

دی راز خلکو ته تاسو په‌ښکاره او واضحو الفاظو کښی داسی ووایئ چه: راځی! تاسو مونږ سره هغو ښېیو ته ولاړ شئ! چه هلته مونږ په‌یوې کولو او ځملی په‌اړولو بوخت یو.

یا ځو مونږ د نورو ورونو سره سمندرونو ته لاړ شی او هلته په‌او بو کښی جالونه وا چوئ.

داځکه چه ځمکه او سمندر لکه څنګه چه‌ز مونږ دپاره فیاض دی‌ستاسو له پاره هم فیاض دی.

که تاسو ته‌مجلسیان او نخید و نکی او دمان راشی، نو دهغو مالو نه هم په قیمت واخلیء!

دا ځکه چه هغوی هم تاسو ته دمېوو خوږو الی او د ګلا نو و ږ مې راوړی.

کوم مال چه هغوی تاسوته راوړی که څه هم‌دغه دهغوی مال او متاع د تخیل او تصور په‌ږړه کښې جوړ او تیار شوی وی، لیکن‌سره ددې هم دغه دهغوی مال ستاسو دروح او ستاسو دوجود دپاره لباس او غذاده.

په کوم وخت کښی چه تاسو دباز ار نه‌بیر ته خپلو کور ونو ته ځیء نو ګوریء چه کوم‌یو بیو پاری او یابل څوک خوتش لاس او محروم نه دی پاته شوی.

داددې له‌پاره چه‌دزړه کارساز او ستاسو مالك په‌خپله ملکو تی فضا کښی

آرام نشی کړلای ترڅو چه د نړۍ د ټولو کڼناتو ضروريات پوره او هغوی په آرام نشی .

-۱۲-

بیا دښار یو کوتوال دې ته مخاطب کړ او ورته ئې وویل :
«مونږ ته زمونږ د جرایمو په شاوخوا کښې څه ووایه !»
هغه وویل :
هر کله چه ستاسو دروح اکثروشلیږی . او ستاسو دروح د هوا ؤهوس په منګولو کښې ګیراوروان شیء. نو په دغه وخت کښې د خپلی تنهایی او بې کسی په حالت کښې نورو خلکو ته ضرراو تکلیف رسوی ء:
نورو ته ضرراو تکلیف رسول په حقیقت کښې خپل ځان ته ضرر او تکلیف رسول دی ،
نو ددې ګناه د کفارې دپاره باید تاسو د نیکمرغو خلکو دروازې وټکوی ء!
او دهغو انتظار وباسیء!
ستاسو هغه اعلی نفس - چه له تاسو نه په ډیرو ټیټو او ګناه کارو خلکو کښې هم دغه نفس موجود دی .
دغه اعلی نفس دهغه سمندر نوم دی چه هیڅ کله ئې او به نه بلیتیږي ددې په سطحه هر لامبوزن لامبووهلی شی. بلکه ستا اعلی نفس، دلمر مثال لری .
چه هغه نه دموږك عادت لری او نه دمار .
مګر هغه یواځې ستاسو په وجود کښې مقیم نه دی.
ستاسو په وجود کښې دیر دا راز شیان شته چه هغه دبشریت جزء دی .
لیکن په هغو کښې د برلانراوسه پاخه شوی نه دی .

کوم شیان چه هغه ستاسو په وجود کښې دبشریت جزءدی هغه دادی:

ماله تاسو څخه اکثر د هغو خلکو ذکر اوریدلی دی چه هغو کوم جرم کړی وی. چه ګویا هغه ستاسو له جنس او نوعی څخه نه دی.

بلکه هغه ستاسو له نړی څخه خارج یو داراز خلک دی چه هغو ګویا ستاسو په نړی کښې بی ځایه مداخله کړی ده.

مګر زه تاسو ته داوایم چه :! لکه څنګه چه مقدس پارسا او ایماندار خلک دهغه اعلی نفس څخه نشی پورته کیدلای چه هغه ستاسو په وجود کښې دی.

هم دغه راز ګناه کار او کمزوری خلک دهغه خپل ادنا او تیټ نفس څخه نشی ښکته کیدلی چه هغه دهغو په وجود کښې موجود دی.

لکه څنګه چه دونې هغه پانه چه ورچه شوی او یا زیړه شوې وی، دونی په ټولو نورو تازه او شنو پانو کښې شامله او داخله ګڼلی شی.

هیڅوک دانشی ویلای چه دازیړه او وچه پانه ددی شنو او تازه پانو څخه نده او یاددی ونی پانه نه ده.

همدغه راز ګناه کار هم کومه یوه داراز ګناه نه کوی چه دهغی ګناه او جرم په مسئولیت کښې ستاسو ضمیر په پټ او خفی ډول شریک نه وی.

تاسو ټول دیوی قافلی په څیر دخپل نفس اعلی په لور روان یاست تاسو هم لاریاست او هم لاروی (راه رو) او که په دی قافله کښې له تاسو څخه دیوه سړی پښه خطاشی اویر یوځی نوهغه نور خلک دخطری څخه داسې خبروی لکه څنګه چه یوه تیږه یه لاره کښې خلک اولاروی دخطری څخه خبروی.

نو که دغه لویدلی شخص خپل ولاړ ملګری پورته نه کړی او

هم دغه شان ئې په ځای بر یېږدی او دوی ور څخه مخ په وړاندی ولاړ شی ،

نو په دی صورت کښی ګو یا دوی د نورو رانلونکو خلکو د پاره د لاری په منځ کښی خطره پر یېږدی . او داهم واوری ! ـ که څه هم داز ما خبری به ستاسو په غرزو نو ښی نه لګیږی ـ چه مقتول د خپل قتل په جرم کښی په خپله هم شریك وی .

کوم شخص چه لوڅ او تالا شوی دی هغه په خپله هم د خپلی تباهی په جرم کښی شریك دی .

پاك او بی ګناه خلك ، دمجرمانو او ګناه کارو خلکو دافعالو په مسئولیت او ذمه داری کښی اورمرو شریك دی .

هیڅ کوم بودا راز پاك او بې ګناه شخص نشته دی چه د هغه لاسونه به دبد کارانو په بد کاری نه وی ککړ شوی .

همدغه ډول اکثر مجرمان دهغه ښکار هدف ګیږی کوم هدف نه چه دی ضرر او تکلیف ور رسوی .

اکثر هغه مجرمان چه په سزا رسیږی په ظاهر کښی مجرمان نه وی او دنورو بې خطاؤ معصومانو بار هم ددوی په اوږو باروی .

تاسو انصاف دبی انصافی او ګناه کار دبې ګناه څخه نشی جلا کولی .

دا ځکه چه دوی د لمر په رڼا کښی یو بل سره یو ځای اوزه په اوزه ولاړ دی .

لکه څنګه چه تور او سپین تارونه دیو بل سره تاو شوی او سره نغښتلی شوی وی نو که په دغه صورت کښی تور تار و شلیږی ، نو ټول تارونه

بیرته‌ئ سموی او خپلی هغی کار ګانه هم متوجه کیږی چه دغه کمزوری تار ورڅخه وتلی وی.

که په تاسو کښی یو شخص داوغواړی چه دیوی بی‌وفاښځی جرم دانصاف په تله کښی وتلی، نو دهغه دپاره داخبره لازمه ده چه هغه ددغی ښځی دخاوند زړه‌هم ددغی تلی په بل‌چپا بړی کښی کښیږدی، او ددغی ښځی دروح سره دهغه سړی روح هم وتلی. او بیاهغه شخص چه دمجرمانو دوهلو ټکولو وظیفه ئی په غاړه اخیستی ده، باید دهغه شخص روح ته هم ځیر شی چه په هغه ظلم او تیری شوی دی.

که په تاسو کښی یو شخص داغواړی چه دحق او انصاف په نوم یو مجرم ته سزاور کړی او په‌دی وسیله دګناه ونه‌دانصاف په تبرغوڅه او پربکړی،

نو هغه باید ددغی ونی بیخ ته هم ځیر او ملتفت شی. او هرکله چه‌دی په ځمکه کښی دو نوښځی ریښی و ګوری نو ده‌ته به‌داحقیقت هم څرګندشی چه‌دځمکی دلاندی په خاموشو او تاریکو اعماقو کښی ښی او بدی او دمیوی لرونکو او بی‌میوو ونو ریښی دیوبل سره ګډی او مخلوطی پرتی دی.

نو ای دعدل او انصاف اجاره‌دارو حاکمانو! که تاسی غواړیء! چه د حق او عدل دتقاضا سره سمی فیصلی وکړیء او خلکو ته سزاګانی ور کړیء!

نو تاسو به دهغه شخص په خصوص کښی څه فیصله کویء چه‌په ظاهر کښی نیکوکار ښکاری، مګر دهغه روح او باطن غل او خراب وی.

تاسو به هغه شخص ته څه سزا ور کویء، چه هغه په‌خپله توره دبل دجسم څخه روح جلا کوی.

ACKU

مګر دي کار سرسم دی خپل روح هم جلا کوی او په خپل لاس خپل ځان وژني او تاسو به هغه شخص څنګه محا کمه کوئ چه د هغه عمل د ظلم او فریب څخه خالی نه وی. مګر هغه خوار به خپله هم د نورو د فریب په جال کښی اخ او د نورو په مقابل کښی مظلوم وی؟

تاسو به هغو خلکو ته څنګه سزاور کړئ چه د هغو پښیمانی د هغوی د جرایمو او ګناهونو څخه ډیره زیاته وی؟

آیا پښیمانی د هغه قانون په اساس چه تاسو رباندی عمل کوئ سزا نه ګڼلی کیږی؟

لیکن دا سزا یوراز سزا ده چه که تاسو وغواړئ چه هغه ته سزا ور کړئ، نو د غی سزا د قانون له مخی هغوی نه مستحق کیږی. او نه د خپل د غه کار په اثر تاسو د غه پښیمانی د مجرم د زړه څخه جلا کولی او بیرته کولی شئ!

دا ځکه چه پښیمانی هغه شی دی چه بې له بلنی څخه د شپی په تیارو کښی دي د یاره راځی چه بیده راوېښ کړی چه:

هغوی د شپی په د غه خاموشی کښی د خپل نفس په شا او خوا کښی مطالعه و کړی.

په حقیقت کښی پښیمانی د هغه شی نوم دی چه د غه شی د شپی په تیارو کښی د انسان په وجود کښی د ضمیر ډېوه بلوی.

تاسو چه د دي خبري دعوا کوئ چه مونږ د انصاف په اصولو ډیر ښه پوهیږو، نوزه تاسی ته وایم چه تر کومه وخته پوری چه تاسو د یو ګناه کار انسان د ژوند په شا او خوا کښی د ومره معلومات و نه لرئ څومره چه ئی تاسو په خپل فکر کښی د هغه د نیکیو په شا او خوا کښی لرئ نو په د غه وخت کښی به

ACKU

دا خبره معلومه شي چه سربلند او سرنګون دواړه يوشان دي .

ګويا يوا نسان دی او يو د هغه نفس ، چه دسهار او شپې په منځ کښې په يو ډول قائم دی چه يوې خواته د شپې په تيارو کښې د هغه ادنی نفس ښکاره او ظاهر دی ، او بلې خوانه د سهار په رڼا کښې د هغه اعلی نفس جلوه ګوی

په دغه وخت کښې به تاسو ته دا خبره معلومه شي چه د معبد د محراب هغه تيږه چه تاسي ته جګه ښکاريږي' په حقيقت کښې د بنسټ له تيږي څخه کوم جګ والی نه لري .

-١٣-

بيا يوه قانون ساز وويل :

«مونږ ته د قانون په شاا و خوا کښې څه وواېئ»؟

هغه وويل :

که څه هم تاسو ته د قانون جوړول او د هغه په خلکو باندی جاری کول ډير خوند در کوی .

مګر د هغه قانون ماتول او له هغه قانون څخه مخالفت کول تاسی ته ډير مزيا ته مزه در کړی ستاسو مثال د هغو کوچنيانو غوندی دی چه د سمندر په غاړه لوبی کوی ، هغوی په ډيره مينه او شوق د شګو کور ګی جوړ وی' او بيا ئې په ډيره خوشحالی ييرته ورانوی او د هغو په و را نو لو ډيره خندا او خوشحالی کوی' مګر څو مره چه تاسو دغه کور ګی په خندا او خو شحا لی ورانوی ٔ په هم هغه اندازه سمندر تا سو د پاره ډيرې زياتې شګې راوړی .

تاسو له دغو شګو څخه بيا په نويو کرو ګو جوړولو پيل کوی ! او بيا ئې ورانوی ! او سمندر بيا تاسو د پاره نوې شګې راوړی.

هر کله چه تاسو د خپلو جوړو کړو کور کیږه وړانولو ته ناستی یاست! نو سمندر هم تاسو سره په دغه خندا کښې ګډون کوی.

مګر د هغو خلکو به څه حال وی؟ چه هغوی نه خپل ژوند سمندر ګڼی او نه دا انسانانو جوړ کړی شوی قوانین د شګو کور ګڼی، بلکه هغوی خپل ژوند یوه پرقوی غر ګڼی او خپل قوانین د دغه غره په تیږو باندې کیندل شوی نقوش ګڼی، او دوی دا کوښښ کوی چه په دغو تیږو د خپل معنوی وجود د پرښکلی نقوش و کیندی.

مګر دوی هم د پرزر د دغه خپل نقوش وړانوی او نوی نوی نقوش ور باندې دې دیاره کیندې چه د دوی په عقیده د دغه نوی نقوش د پخوا نیو نقوشو په نسبت د پرښه او مکمل دی.

او په دې ډول هر نوی او تازه نقش بل نوی او تازه نقش ته ارتیا پیدا کوی، لیکن سره د دې هم د دې خلکو ژوند چه خپل حیات یو غر ګڼی د پر ناستواره وی.

هر کله چه دوی نور خلک د خپلو ځانو څخه بل ډول او مختلف وینی، نو که څه په اصل حقیقت خبر نه وی، مګر د پر خپه کیږی.

دغه شل او ګوډ ړونداو کوڼ به څه حال وی؟ چه نور خلک په ښه او خوشحالیو کښې بوخت وینی، او د حسد او کینې په اور کښې کړیږی او خپل حسد او د لمبو غلی کولو د پاره د خپلې ګوډې پښې، مات لاس او ړندې سترګې د ښه والی او ګټو په شا او خوا کښې په شماره ډول دلیلو نه بیانوی.

ACKU

د هغه غوائي به څه حال وي؟ چه هغه د خپلې غاړې د جغ سره دومره مينه لري چه دی صحرايانو غوايانو ته له دې کبله په ده‌ستر ګ، ګوري چه هغوی د جغ سره مينه او آشنائي نه کوي.

د هغه زوړ مار به څه حال وي؟ چه هغه د خپل زوړوالي له کبله خپل پوستکی نشي غورځولی، او چه ځوانان ماران ووينې چه دوی خپل پوستکی غورځولی دی، نو هغوی ته دې بربنډ او بې شرمه وائي.

هغه شخص چه نابللی اکثرو ځايو ته ورځي او ميلمه کېږي او ډېر وختي راځي او ډېره زياته ډوډۍ خوري او دومره خوري چه ځان وربانډې سترې کړي او چه ډېره زياته ډوډۍ وخوري او په خېټه کښې ئې دسپېر کېو د پاره ځای پاته نه شي نو پاځي ولاړ شي.

نو بيا خپل ځان نه ملامتوي او داوائي چه اوس په ميلمستيا ګانو کښې خوند نه دی پاته شوی، او نه خالک د ميلمستيا په قانون پوهېږي او له همدې کبله د دوی په ميلمستيا کښې د خلکو معدې او هاضمې خرابېږي.

زه دې راز خلکو ته بې له دې څه وايم چه تاسو خو د لمر په رڼا کښې ولاړ ياست مګر تاسو لمر ته شا کړې ده.

تاسو يوازې خپلو سيورو ته ګورئ او دلمر سترګې ته نه ګورئ او دغه ستاسو سيوري ستاسو قانون دی.

ستاسو په عقيده دلمر حقيقت يوازې د سيورو جوړول دي. نو بيا د دې خبرې تاسو سره کوم دليل نشته چه تاسو اصل قانون چه په لمر کښې د ننه پروت دی، دومره قدر ته منئ، چه د هغه د رڼا څخه جوړ شوی سيوري د ځمکې په مخ پلټئ.

په دغو سیورو پسې ځغلي او منډې وهي.

مګر اوس زمونږ خلکو ته په دې خبره کړم چه ننغړی لمر ته مخ کړی دی او د لمر خواته روان دی.

تاسو د ځمکې په مخ پراته سیوری قطعاً نشئ نیولای!

او تاسو چه د هوا نسیر سره سم منزل او سفر کوئ نو په دې صورت کښې تاسې قطب نما ته هیڅ ضرورت نه لرئ.

او نه تاسو د انسانانو جوړ کړی قوانین د خپلې سلطې لاندې راوستلی شئ، هر کله چه تاسو جغ د خپلې غاړې څخه کښته ګوزار کړئ او د خلکو د وانی کړی بندیخانی دروازې ته ورننشئ نو تاسو د قانون څخه ولې ویره کوئ بلکه تاسې آزاده نڅا کوئ او د انسانانو په جوړو کړو قوانینو کښې ځانونه مه نښلوئ!

هیڅوک دې قدرت نه لری چه تاسو محاکمه کړی لیکن په دې شرط چه تاسو د خپلو وجودونو څخه د غرض خراب کالی لیرې کړئ.

مګر دغه کالی د کوم لاروی او مسافر په لاره کښې مه غورځوئ.

ای د کسب او هنر خاوندانو! تاسو په دې صورت د نغارې اوازبند ولې شئ چه د هغې د څرمنې د پاره کوم شی او یا توکر وغوړوئ او تاسو د یو رباب او یوې سرینډې آواز په دې ډول بند ولې شئ چه د هغو تارونه سست او بې ځایه کړئ او په دې ډول د دغو تارونو او نغارې د موسیقی آواز او نغمه بنده او فنا کولی شئ مګر تاسې دا قدرت نه لرئ چه د آسمان موسیقی په کومه وسیله غلې او فنا کړی شئ.

بیاورئه بوې ښځې چه دغه ټولې خبرې ئې واورېدلې چپه او غلې یوې خوا ته ولاړه وه وویل :

«مونږ ته دعقل او جذبې په شا او خوا کښې یو څو خبرې وکړه !»

هغه وویل :

ستاسو د روحونو څخه هغه وخت د جنګ ډګر جوړېږي، چه ستاسو سلیم عقل او نفساني خواهشات ستاسو فهم او پوهه په خپلو منځو کښې لاس او ګرېوان او په خپلو منځو کښې په جګړه اخته شي.

کاش چه زه په دغه وخت کښې ستاسو په روحونو کښې ننوتلې شوای !! او د دغو په جنګ اخته قوا ؤ په منځ کښې مې روغه کولای شوای !!

ارمان چه په دغه وخت کښې مامنځګړتوب کولای شوی !! او ما دا قدرت او قوت درلودای چه ستاسو د عنا صرو د غه مجادله او مناقشه مې د وحدت په نغمه بدله کړی وای !!

تاسو به دې حقیقت پوه شیء، چه ستاسو عقل او جذبات ستاسو د روح د هغې بېړۍ چه د حوادثو او ژوندانه د سمندر په څپو سفر کوي د وه څپې دي. نو که ستاسو د دغې بېړۍ د بادوان او یا څپو څخه یوه هم ماته او یا خرابه شي، نو په دغه صورت کښې به ستاسو ټول مقدرات او اختیار د سمندر د څپو په لاس کښې شي.

ستاسو په لاس کښې به کوم اقتدار پاته نشي او په دغه سمندر کښې به لاهو روان یاست !!

دا ځکه چه عقل یوازې هغه قوت دی چه د عمل او حرکت کنترول کوي

او د هغې جذبې مثال چه عقل ور سره نه وی د یوې داسې شعلې په شان دی چه هم خپل ځان او هم نور شیان سیځی.

او بیا ځې عقل د حرکت او عمل د کنترول ضامن دی نو تاسو د دې خبرې کوښښ کوئ چه ستاسو روح ستاسو عقل هغه ځای مقام ته ور سوی چه په هغه مقام کښې جذبات ځای لری او په دغه مقام کښې عقل او جذبات په شریکه د ژوندانه نغمې پورته او خپرې کړی، دغه نغمې ستاسې په وجود کښې حرکت پیدا کړی او تاسو د عمل او فعالیت د ګرنه راګیر کړی او ستاسو په بې جلبه او بې ترازه عمل او حرکت کښې توازن او معقولیت پیدا کړی.

او خپل روح ته د دې خبرې اجازه او اختیار ورکړی چه د جذباتو د لارښودنې اختیار عقل ته په لاس ورکړی.

او دا دې دپاره چه ستاسو د دې کار په اثر ستاسو جذبات هره ورځ په خپل اور کښې سوځیدلی او بیرته له هغه اور څخه را پیدا شی. او د ققنس په شان په خپلو ایرو کښې خپل ژوند محفوظ وساتی زه له تاسو څخه په ټینګه داخبره غواړم چه تاسو په خپلو زړونو کښې د فیصلې قوت او خپل خواهشات داسې معزز او محترم وساتی: لکه څنګه چه یو د پر قدردان سړی خپل د پر ګران میلمانه په خپل کور کښې معزز او محترم ساتی.

زه په دې خبره پوره یقین لرم چه تاسو به هیڅ کله دا کار و نه کړئ چه د یوه میلمه په تربل میلمه د پر قدر او احترام کوئ.

دا ځکه چه که د کور خاوند په دوو میلمنو کښې د یوه میلمه څخه د بل میلمه پر قدر کوی، نو په دغه صورت کښې له دغه سړی څخه دواړه میلمانه خپه کیږدی.

په کوم وخت کښې چه تاسو دغرونو په درو کښې دیوې کوږې او سمسورې
وتې په سا یه سیورې کښې کښېنئ او د دغې درې دسمسورو
ځمکو او ښکلو منظرو په چپه فضاء کښې په ننداره بوخت شئ.

نو په دغه وخت کښې ستاسو زړه په دغه چپه او خاموشه فضا کښې دا وینا
کوی. چه:

زما عقل د نړۍ د ټولو عقلونو دهوسا یۍ سبب دی، لیکن په کوم وخت کښې
چه د ځولونو او دهوا دطوفانونو لښکرې په دغه ځمکه خپرې شي او دهوا
قوی لاسونه دونو په خوځولو پیل وکړی او دور ځواو تالند ومهیب اوازونه
دآسمان دعظمت اعلان وکړی.

نو په دغه وخت کښې ستاسو زړونه او حواس مرعوب شی او په دې وینا
پیل وکړی:

چه عقل دجذبې دوینو په دوران کښې حرکت کوی او له دې کبله چه تاسو
دعقل مطلق په بسیطه فضاء کښې دژوند یوه نغمه یاست او له دې کبله چه
تاسو دعقل مطلق په لامتناهی فضا کښې او دعقل مطلق په لامتناهی صحرا کښې
دیوې ډیرې جنګی او غټې ونې یوه پانه یاست.

نو په دې صورت کښې ستاسو د باره دا خبره ضروری او لازمه ده چه
دعقل په ذریعه خپل نونه هوسا کړیء او دجذبې په ذریعه حرکت وکړیء.

- ۱۵ -

بیا له دغو خلکو څخه یوه ښځه را ووتله، او په لوړ آوازئې دا پوښتنه وکړه:
مونږ ته د درد په شا او خوا کښې څه ووایه !

ACKU

هغه وویل:

ستاسو درد په حقیقت کښې دهغې سیپۍ (صدف) د ماتېدلو د تکلیف نوم دی چه په هغې کښې ستاسو پوهه بنده ده.

درد په حقیقت کښې د یو ماعلی فکر دولادت ذلنګېدلو د تکلیف نوم دی.

لکه څنګه چه د یوې مېوې څخه دهغې دمغز د را ایستلو دپاره د هغې د کلک پوټکي ماتول ضرور دی، هم دغه راز د یو اعلی فکر د رابرسېره کولو دپاره درد لازم او ضروری شی دی.

لکه څنګه چه د یوه ګل دغوړېدلو دپاره دغوټۍ دسینې چاودل ضروردی.

هم دغه راز ستاسو دپاره هم دا خبره ضرور ده چه تاسو هم دخپل صدف دچاودلو او ماتېدلو تکلیفونه او دردونه وګالیء.

که ستاسو زړونه د دې خبرې استعدادلری چه دژوندانه د ورځنی پېښې په دقت سره مطالعه کړای شی. نو په دغه صورت کښې ستاسو دغه دردونه او تکلیفونه ستاسو دخوشحالیو څخه په ګټه او خوند کښې لږ او کم نه دی.

دغه شیان به تاسو دخپل زړه دموسمونو دپاره داسې قبول کړیء لکه څنګه چه تاسو دفصلونو دپاره موسمونه قبول کړی دی.

نو هر کله چه ستاسو په زړه دغم او تکلیف موسم راشی، نو تاسو به د خپل فکر او استقامت په سیوری کښې د دغو حالاتو په شا او خوا کښې مطالعه وکړیء

په دغه لړ کښې به تاسو دې نتیجې ته ورسېږیء چه د دغو تکلیفونو ډېره برخه تاسو په خپله دځان دپاره راپیدا کړې او انتخاب کړې ده، درد او تکلیف په حقیقت کښې دهغو ترخو داروګانو نوم دی چه هغه ستاسو د خفی نفس د مرضونو د علاج دپاره هغه مجرب دارو دی چه حاذق طبیب هغه ددغه مرض د پاره لازم ګڼلی دی.

ACKU

لېکن په دې لړ کښې باید تاسو په خپل خوا خوزي او مهر بانه طبیب
اعتماد وکړئ او دغه دارو به د پره مینه وخکئ.

داځکه چه که دجراح لاس د پر دروند او خراب وی مګر سره ددی دغه
لاس دقدرت په اشارو حرکت کوی او ستاسو په وجود کښې کار کوی.

نو کومه پیاله چه طبیب ئې تاسو ته وړاندې کوی، که دومره تودهم وی چه
ستاسو شونډې وربانديې وځي. مګر دغه پیاله په حقیقت کښې دهغو خاورو څخه
جوړه شوې ده چه هغه دقدرت کلال په خپلو او ښکو خیشمه او خته کړې ده.

-١٦-

بیا یوه سړي وویل:

مونږ ته دخودی د اسرار و په شا او خوا کښې څه وایه!

هغه وویل:

دچپتیا او سکون په حالت کښې ستاسو زړه دا کولی شی چه دشپو او ورځو
په تولو اسرار و او رازونو خبر شی؟.

مګر ستاسو غوږونه په د پره بې صبرۍ د دې خبرې انتظار باسی چه ستاسو
دزړه علم به هغوته کله وروروسپېږی.

تاسو داهیله لرئ چه هغه راز چه ستاسو په زړه کښې تل واضح او ښکاره
بروت دئ دالفاظو په شکل او بڼه ستاسو غوږونو ته هم درور سپېږی.

تاسو داهیله لرئ چه دخپل تصور په عریان او بربنډ جسم ګوتې
ولاسونه ووهئ!

ښه کار دادی چه همدغه شان وشی او ستاسو دغه هیله
ترسره شی ستاسو دروح دژور والی چینه ضرور باید چه او جاری شی،

اوپه د پرشوراومنډه دسمندرلوری ته روانه‌شی .

په دغه وخت کښی به‌دسمندر دلایتناهی ژوروالی خزانی تاسو ته ښکاره او څر ګندې شی .

مګر تاسو ددې خبری کو ښش مه کو یء چه دغه نا معلو می خزانی په کومه تله و تلیء .

او نه ددی خبری کوښش و کړیء چه‌دخپل علم او لیاقت ژور والی او عمق د کوم بولر کی او یاهتر په‌ذریعه کچ اومعلوم کړیء .

داځکه چه‌ستاسو معنوی وجود بوناسی سمندر دی چه دغه باباب او غاړی چانه‌معلومې نه‌دی .

تاسو دامه وایاست چه‌ماحق وموند اوزه حق‌ته‌ورسیدم .

بلکه‌صرف دا ووایاست چه‌ماله‌د برو حقیقتونوڅخه فقط بوحقیقت‌وموند اوبو حقیقت‌ته‌مې علم‌ور ورسید .

دامه‌وایاست چه‌مادروح لاره‌معلومه کړه بلکه‌یواځی دومره ووایاست چه‌زه په‌لاره باندی روان‌وم چه‌په یوځای کښی دخپل روح سره‌مخامخ شوم داځکه چه‌روح د یری لاری لری .

روح په‌دی خبره مجبور نه‌دی چه‌په‌یوه تا کلی لار ولاړشی .

او نه روح دونې په‌څیر یوموجوددی چه ریښې‌ئې په‌ځمکه کښی ښخی وې .

روح د صد برګ ګل په‌څیر یو ګل دی چه‌د بری پانی لری .

بیا یو مدرس ووېل :

«مونږ ته هم د تعلیم او تعلم په خصوص کښې څه هدایتونه را کړه»

هغه ووېل :

هېڅوك تاسو ته د هغه علم تعلیم نشي درکولی تر څو چه هغه علم ستاسو په وجود کښې ستاسو د ادراك په افق په نیم خوابه ډول موجود نه وي . هغه مدرس چه هغه د مسجد د دېوالونو په سیوري کښې او یا د مدرسې په محراب کښې خپلو شاګردانو سره علم په شا او خوا کښې خبري اتري او مذاکره کوي هغه په حقیقت کښې خپلو شاګردانو ته، علم نه ور کوي، بلکه هغه یې ته خپل ایمان او خپله مینه ور کوي که هغه د پوهې خاوند وي نو هغه به هېڅ کله تاسو ته دا ونه وائي چه زما د عقل په خونه کښې را ننوزئ بلکه هغه به تاسو ته هغه لار دربښئي چه هغه ستاسو د زړه درشل ته نیغه ور غلې ده .

بونجومي دا کولی شي چه هغه د بسیطي خلا او فلکي اجرامو په شاوخوا کښې تر کومي اندازي چه هغه په دې خصوص کښې معلومات لري تاسو ته بیان وکړي .

مګر خپل هغه ادراك چه د شیانو د ماهیت په خصوص کښې ئې لري او د خپل تمیز قوت تاسو ته نشي درکولی . هم دغه راز یو دم تاسو ته خپل ساز او راز راز راګونه اوبدلی او ر ولی شي .

مګر تاسو ته هغه غوږونه نشي درکولی چه تاسو د هغو په ذریعه د نغمو په حقیقت پوه شئ او دغه نغمې ور باندې په حقیقي ډول وپېژندلی شئ

او نه تاسو ته هغه آواز درکولی شي چه د هغه آواز په ذریعه د ده نغمې په فضا کښې پورته کېږي او خپرېږي .

او هم دغه راز د ریاضي په علم پوه تاسو ته د وزن او پیمانې اصول او قواعد دربښودلی شي مګر هغه د وزن او پیمانې په وسعت کښې د ننه تاسو د خپل ځان سره نشي بیولی .

داځکه چه د یو شخص د زړه امواج د یو بل شخص په بصیرت او د نورو په ورزو نو پرواز او الوتل نشي کولی نو لکه څنګه چه په تاسو کښې هر یو د عقل په وسیع علم کښې فرداً فرداً او ځانله ځانله د خپل اهلیت او لیاقت په اندازه ځای مومی .

هم دغه شان له تاسو څخه هر یو د دنیا او ماورای د نیا په خصوص کښې خپل علم جلا ساتی .

دا علم مشترك کیدلی نشی .

داځکه چه د ده وسعت په خپل ځان کښې د انسانانو اشتراك خپل توهین کڼی.

-١٨-

بیا یو ځلمی را وړاندې شو او وئې ویل :

« ما ته د دوستۍ او ملګرتیا په خصوص کښې څه ووایه ! »

هغه وویل :

ستاسو دوست هغه احتیاج دی ، چه هغه پوره او ترسره شوی وی هغه ستاسو هغه پټی دی چه تاسو په هغه کښې د مینې او محبت تخمونه کری ء او شیندی ء .

تاسو خپل دغه پټی په امتنان او تشکر لو کوی ء .

او هم دغه شی ستاسو د کور دسترخوان او نغری دی ، داځکه چه تاسو خپله لوږه او احتیاج هغه ته وړی ء او د هغه څخه هوسائی غواړی ء .

په کوم وخت کښې چه ستاسو دوست تاسو ته د خپل زړه خبره کوی نو په دغه وخت کښې نه تاسو د خپل زړه له (یه) څخه متردد کوی . او نه تاسو هغه د خپل (هو!) څخه محروم کوی . او هر کله چه هغه چپ شی نو په دغه وخت کښې تاسو د هغه د زړه خبری اوری ء .

داځکه چه د دوستۍ افکار ، او ټول خیالات او خواهشات او ټول توقعات

ACKU

اوتولي ارادې شيان دی چه بی دالفاظو دمرستی څخه پيدا کيږی ،

اوددې کارپه اثر ددوستانو په زړونو کښی يوراز بی ارادی خوشحالی پيدا کيږی .

په کوم وخت کښی چه تاسو دخپل دوست څخه چلا کيږی ، نومه خپه کيږی .

داځکه چه کوم شی چه په هغه کښی تاسو ته ډېر گران (عزيز) وی ممکنه ده چه دهغه دغياب په موده کښی دغه گرانښت (عزيزوالی) تاسو ته ډيرزيات گران (عزيز) اوپه ښه ډول واضح اوښکاره شی .

ددې پورته مطلب مثال داسی دی لکه ديوه غره ، هر کله چه تاسو په غره باندې پورته خېژیء نو دغه غرپه خپل مجموعی هيئت کښی تاسو ته دومره صاف اوواضح نه ښکاره کيږی ، هرخومره چه تاسوته دغره دلمنو څخه چک ښکاره کيږی بايد ددوستۍ په پرده کښی کوم مطلب نغښتی او پټ نه وی اوددوستۍ څخه مقصد يواځی له هغه سره په مشترکو روحانی اعماقو کښی شراکت دی اوبس .

په کومه مينه اودوستۍ کښی چه مقصد پټ وی ، هغه په حقيقت کښی مينه اودوستۍ نه ده بلکه يوغوړ يدلی جال دی چه بې تجربې خلک په کښې ښکار کولی شی .

کوم شی چه ستاسو په قدرت کښی ډېر ښه او غوره وی هغه خپل دوست ته وړاندی کویء .

او که هغه داسيله لری چه ستاسو دامدوجزرهم وگوری . نوهغه ته دخپل بحرد طغيان منظره هم ورښکاره کویء ،

داځکه چه هغه دوستي او دوست هيڅ معنی نه لري چه هغه یوا ځي تاسو ددي د پاره تاکلی او انتخاب کړی وی چه د هغه څخه خپل و زګـارو ختو نه او دغم او پريشانی د ډك ساعتو نه تېر کړی.

بايد تاسو خپل دوست څخه ډیور ته ذکرشوو ساعتونو په ځای د خوشحالی او فعاليت وخت تیر کړی.

داځکه چه د دوست وظیفه داده چه هغه ستاسو خوا هشات او ضرور تونه پوره کړی.

نه داچه هغه ستاسو د وختو نو تشي کـاسی ډ کې کړی!

تاسو دوستی په خندا او خوشحالی خوزه کړیء او خپلی خوشحالی د خپلو دوستانو سره شریکی کړیء.

داځکه چه د مینی او ژوندانه په معطرو پرخه (شبنم) زړونه تازه کیږی، او په دغه پرخه د زړه غوټی سپړل کیږی.

-١٩-

بيا د دغه ښار د علماؤ او فضلاؤ څخه يو فاضل راووت او وئی ويل:

«مونږ ته دوینا او نطق دذوق په شا اوخوا کښی څه ووایه!»

هغه وويل:

تاسو په هغه وخت کښی په هغه وينا پیل کویء چه په دغه وخت کښی ستاسو افکـار په قطعی ډول د سکون څخه محروم شوی وی.

داخبره امکان نه لری چه ستاسو خپل زړه په چپ والی او په اځي والی کښی تاسو په وينا او بايد په بل عبارت په خپل آواز او ژبه په لوبو ک و شر وع کویء

په دغه وخت کښې ستاسو د الفاظو په تیل ماتیل کښې ستاسو افکار او مطالب غوبل او تریښو لاندې مړه او هلاک شی.

داځکه چه تفکر د بسیطې فضا یو شکلی مارغه دی دغه نفیس مارغه کله غواړی چه د نطق او بیان په قفس کښې د ننه خپل و زرونه دالوتلو دپاره خپاره کړی مګر الوتلی نشی.

په تاسو کښې ډیر داراز اشخاص هم شته چه هغوی د خبرلوڅو خلکو څخه یواځی ددې دپاره ځی چه هغوی د خپلو خیالاتو د یواځی والی څخه بیر یږی.

داځکه چه د هغو دافکارو یواځی والی هغوی د خپل روح د عریانی او اوخ والی څخه خبروی.

هغوی له دې منظرې څخه وېره کوی او تښتی.

دوی غواړی چه په دې وسیله دغه خپله عریانی پټه کړی او له دې کبله دوی ژرژر او ډیرې خبرې کوی.

په تاسو کښې ځینې داډول خلک هم شته چه هغوی په یوشی قطعاً نه پوهیږی لیکن دهغه شی په شا او خوا کښې وینا ګانې کوی او په دغه وینا کښې نه خپلې بې علمی ته ملتیفت کیږی او نه د دوراندیشی کرم فکر کوی.

او ځینې په لارو او کوڅو کښې بې ارادې د داسې حقا یقود مخ نه پلو پورته کوی چه په خپله هم ورباندې نه پوهیږی.

او ځینې داراز اشخاص دی چه هغوی داغواړی چه په خپل زړه کښې حق ژوندی او روښانه وساتی. مګر دغه شی په الفاظو کښې چاته نه شی بیانولی، او نه دغه حق ته دالفاظو کالی وراغوستلی شی.

او نه ددې کار همت لري چه دغه حقايق دزړه دخلوت نه دژبې په ذريعه دباندې راوباسي.

دوی په دې کار کښې یا کوم اختيار نه لري او مجبور وي او بيا ئې کړه ليشي مګر دداسې کار کول نه غواړي.

ددې ډول خلکو په سينو کښې ديان روح تل چپ اوسي.

مګر دغه چپ والی دشعريت څخه ډکوی.

هر کله چه تاسو په کوڅه او بازار کښې دخپل کوم دوست سره يو ځای شۍ نو په دغه وخت کښې خپل روح ته ددې خبرې اجازه ورکوی چه هغه ستاسو شونډې په حرکت راولي او ستاسو ژبې ته ددې کار لارښوونه وکړی چه دهغه دحق مارغه په چغارو کړشي. او په دې وسيله ستاسو دوست غوږونو ته ستاسو دزړه داعلی حقيقت درد ور رسيږی.

دغه آواز دهغه په زړه کښې داسې خوږ او ښکلی ياد ګټار يا ته شي لکه څنګه چه ستاسو په سترګو کښې دشرابو ښکلی خمار دياد ګار په ډول ياته کيږی.

په دغه وخت کښې چه د غو سرو شرابو پيمانه بې رنګه او دشرابو ضراحی ماته شی.

ــ ۲۰ ــ

بيا يوه نوجوان وویل:

«زموږ آغا اموږ ته دژوند او نه دور څوپه شا او خوا کښې څه وایه!»

هغه و ویل :

تاسو تل د وخت په کچولو، میچولو او تللو کښې بوخت یاست مگر وخت هیڅوك میچولی او تللی نه شی،

تاسو غواړئ چه د وخت او موسم سره سم د خپل کار او د خپل روح د پاره یو ه لار غوره او تجویز کړئ.

تاسو دا عقیده لرئ چه وخت یو دریاب دی او تاسو د دغه دریاب په غاړه ناست د بهاندو او بو ننداره کوئ.

مگر ستاسو په وجود کښې یو دارازشی هم شته چه هغه د وخت د تاثیر لاندی نشی راتللی ـ او هغه ته دا خبره معلومه ده چه په ژوندانه کښې د وخت او ساعت حساب قطعاً نشته دی.

هغه ته دا خبره معلومه ده، چه تیر پرون په نن کښې تش د ماضی یو نقش دی چه هیخ اساس او حقیقت نه لری. او راتلونکی سبا په نن کښې یو خوب او غولوونکی تصور او افسانه ده!

هغه ته دا حقیقت هم ښه معلوم دی چه کوم شی چه ستاسو په وجود کښې په نغمو اخته او متفکر دی، هغه اوس هم د هغه اول ساعت په حدودو کښې قایم او په خپل اصلی ځای ولاړ دی، یعنی په هغه لومړی ساعت کښې چه په دغه ساعت کښې ستوری په آسمان کښې شیندلی کیدل. آیا په تاسو کښې به دا راز کوم یو سړی وی چه هغه ته به دا حقیقت نه وی څرګند چه هغه محبت او مینه چه انتها د ه هغه مینه دده په میحد و دوجود کښې محدوده، پابنده او مقید ه ده ـ دده د عشق افکار یو په بل پسې پیدا کیدی شی.

نو آیا د مینې په څیر وخت هم یو غیر منقسم اولا انتهاشی او یو بې قیده رفتار نه دی ؟ لیکن که سره ددی هم تاسې دې کار ته اړ او مجبور یاست چه په خپلو افکارو کښې د ننه وخت په زمانو او موسمو نو ووېشیٔ .

نو په دې صورت کښې هر موسم په نورو ټولو موسمو نو محیط کړیٔ .

او خپل (نن) د ماضی د یاد او د مستقبل د امید و نو سره تر غاړې باسیٔ او د وی سره په خپلو کښې یو ځای او د یو بل سره مربوط کړی !

-۲۱-

بیا د کلی مشرانو او خانانو وویل:

« مونږ ته د ښو او د بدو په شا او خوا کښې څه ووایه ! »

هغه وویل :

کوم شی چه ستاسو په وجود کښې نیک او ښه دی، د هغه خو زه ذکر کولی شم !

مګر کوم شی چه ناوړه او بد دی د هغه په خصوص کښې زه څه و وایم ؟

او دا ځکه چه بدي ته له هغو نیکو څخه بل کوم شی کیدلی نه شی چه د هغه صورت داشتها او خواهش سلطې منع کړی او ګرځولی وی،

یعنی حقیقت دادی چه په کوم وخت کښې نیک لوږه و اخلی نو له د ېری لوږی په تیاره وغارو کښې هم د خپل خوراك په پلټنه پسې ننوځی .

هر کله چه دی د یره تنده وارخطا کړی نو په دغه وخت کښې د ی پلیتی او ناولی او به هم څکی .

تاسو تر هغه وخته پورې نیک یاست تر کومه وخته پورې چه تاسو او ستاسو معنوی وجود په خپلو منځو کښې د یو بل سره ملګری او هم نفس وی .

لیکن که داسې نه وي، نو په دې صورت کښې هم دا خبره ضروري نه ده چه تاسو ته بد او بلې ښي.

دا ځکه چه که د کور خلك په خپلو منځو کښې سره متفق نه وي، نو دا خبره ضروري نه ده چه دغه کور ته دې غله ور ننوځي او دا خبره هم امکان لري چه د کور نفاق به دا ځي په کور کښې محدود پاته شي او د باندې تجاوز و نه کړي.

لیکه چه دا خبره امکان لري چه د بوجهاز چپې دې ماتې شي او سره ددې دې هم هغه دا او بو په مخ ولاړ پاته شي او ډوب دې نشي.

او دا خبر ضرور نه ده چه هغه دې اړو مرو ډوب شي.

تاسو دهغه وخته پورې نیك یاست ترڅو چه تاسو د خپل وجود کومه برخه نورو ته ور کولای شيء.

تاسو بواځې له دې کبله نشيء بد کېدلای چه تاسو د خپل ځان له پاره د ګټې کوم شوق او خواهش و لريء.

دا ځکه چه په کوم وخت کښې چه تاسو د دنیا او فطرت څخه د کوم شي د حاصلولو دپاره زیار باسيء! نو په دغه وخت کښې ستاسو مثال د ونې د هغې ريښې په څېر دی چه هغه د مجبورتیا له کبله خپل ځان په ځمکه پورې ونښلوي او په دغه طريقه د خپلې مور يعنې د ځمکې له سینې څخه د خپل ځان دپاره غذا حاصله کړي.

که دار ښه داونه کړي نو څه وکړي؟

په دې خبره کښې هم شك نشته چه د دغې ونې میوه داحق نه لري چه د غې

ربنبی‌ته داروائی چه‌نه هم ماغوندې شه ! یعنی دخوزوالی‌اوشربت څخه د که شه!

اوددې وبنا حق ورته هم نه‌لری چه زما په څیر ته هم خپل نعمتونه نورو ووېشه!

داځکه چه‌لکه څنګه چه دمېوې لپاره داخبره لازمه‌ده چه خپل نعمتونه په‌نورو وویشی- هم دغه شان دربنبی دپاره هم‌داخبره‌لازمه‌ده‌چه‌هغه‌دنورو څخه خپله غذا حاصله کړی.

تاسو په هغه وخت کښې نیک‌یاست په کوم وخت کښې چه‌تاسو دبیداری په‌وخت کښې متکلم یاست .

لیکن که‌تاسو دخوب په‌حالت کښې ګډې وډې خبرې کوئ نو په دغه صورت کښې داخبره ضرورنه ده چه تاسو ته څوك بدووائی .

یو نښتېدونکی ژبه‌هم که په‌غیر مسلسل دول خبرې وکړی نو هغه هم مجهوله نشی ګڼلې .

په‌هم دغه دول که‌تاسودمیړونو په‌څیر دخپل مقصد په لور د مېړانی قدمونه واخلی!

نوپه دې صورت کښې تاسوضرور نیکو کار یاست ! مګر که‌تاسو دخپل هدف اومرام خوانه ګوډ ګوډاو ورو ورو روان یاست ! نوپه‌دې صورت کښې هم‌تاسو ته بد کار نه شی ویلای .

ځکه کوم خلك چه دخپل مرام په‌لور ګوډ ګوډروان وی په‌هر صورت مخ په وړاندې ځی.

کوم خلك چه بالکل په ځای ناست وی او له خپل ځای نه نه خوځیږی هغوی هم خپل منزل ته درسیدلو خو بونه وینی ،

البته تاسو چه قوی او ګړندی روان یاست دي خبری ته هم ملتفت اوسی! چه دګوډا نوسره خپل ځانونه پردي عقیده ګوډ نه کړیء.

چه دا کار دځوان مردی او مروت تقاضا ده

نو تاسو مخ په وړاندی ځیء. لیکن ګوډا نونه په سپکه سترګه مه ګوری!

داځکه چه هغوی هم ستاسو دهدف خوانه راځی.

که ستاسو رفتار سست هم وی، نو په دي صورت کښي هم تاسو ځانونه ګوډ مه ګڼیء.

که څه هم ستاسو په ژوند انه کښي په زړ ګونو جنبي دنیکی او ستاسو په منځ کښي حایلی وی.

مګر دا کومه ضروری خبره نه ده چه که تاسو نیك نه یاست نو هرو مرو به بد یاست.

که ډېر جرئت وکړیء نو تاسو ته به دومره ووائی چه تاسو کاهل او یا ګمراه یاست!

نو دګمراهی سره دا خبره ترلي نه ده چه تاسو به ځان هم ورك کړیء!

ارمان چه هوسی شیشتی ته خپله تیز رفتاری نشی ورزده کولای.

مګر هغه داهم نه شی ویلای چه رفتار یواځي زما به برخه دی او شیشتی په رفتار کښي هیڅ برخه نه لری!

نو ای خلکو! چه تاسو دنیکو او بدو په امتیازاتو کښي بوخت شوی یاست!

ACKU

حقیقت دادیء چه دخواهشاتو کوم اجمال چه ستاسو په وجود کښې دی او لوی مقصد دپاره موجود دی.

هغه به حقیقت کښې دټولو نیکیو اساس دی.

هغه رجحان چه په تاسو ټولو کښې شته دی.

په دغه رجحان کښې فرق دادی چه په ځینو خلکو کښې دغه رجحان دهغه تیز بهید ونکی دریاب په شکل موجود وی چه هغه د پرګرندی دسمندر په لور روان وی او دهیڅ کوم لوی غرا ویا نورو ټرواوونو او ځنګلونو پروانه کوی.

په ځینو کښې دغه رجحان دیوې چینې په شکل موجود وی چه دیو ځا په یورې دغه او به بهیدلې او بیا په ځمکه کښې غیبی شی.

دغه او به سمندر ته ځان نه شی رسولی، لیکن سره ددې هم دغه او به دسمندر خوانه دبهیدلو کوښښ کوی.

نو په دې صورت کښې هغه شخص چه په هغه کښې دطلب قوت ډیر اوزیات دی هیڅ کله یو کمزوری شخص نه دانشی وبلی چه ته ولې ات او سست یې! او ته ولې ژر نشی تللای!.

دا ځکه چه کوم خلك چه حقیقی نیك وی هغوی هیڅ کله دیو بل بنده او لغړ شخص نه دا پوښتنه نه کوی چه ستا کالی څه شول؟ او نه دهغه چا څخه چه کورئې وران شوی وی دا پوښتنه کوی چه ستا کور ولی وران شوی دی؟

بیا یوه مرشد وویل:

«مونږ ته د دعا په خصوص کښې څه ووایه!»

هغه وویل:

تاسو د مصیبت او احتیاج په وخت کښې دعا ګانې کوئ!.

ارمان چه تاسو د خوشالتیا په وخت کښې هم د دعا دپاره د شکران لاسونه پورته کولای.

په هغه وخت کښې چه ستاسو زړونه د ډیری خوشحالۍ نه باغ باغ وی.

تاسو د دغه خپل مهربان، او ګران مېلمه دپاره هم د دغه باغ په یوه ګنډه کښې ابزځای ورکولی، او د خپل زړه په دغه خلوت خانه کښې، وددې ګران مېلمه دپاره ابزځای مخصوص کړی وای.

دعا څه شی دی؟ دعا پر ته له دې ل شی نه دی چه دادیو داراز کیفیت نوم دی چه په دغه کیفیت کښې انسان خپل نفس به سیطه فضا کښې خپورویني، او د دغه کیفیت په اثر خپل لاسونه جبروی.

په کوم وخت کښې چه تاسو د غمونو تیاری د خپلو اوږو څخه په کومه خلا کښې وغورځوی او خپل ولی له دغه بار څخه سپک کړی.

په دغه وخت کښې ستاسو په زړونو کښې یو دول نورپیداشي او دغه نور تاسې خپروی، چه د دغه نور به خپرولو کښې تاسو ارو مرو یو دول حقیقی لاره مومئ.

نو كه په دغه وخت كښې تاسو دې كار ته اړ ياست او اروه مرو دغه كار كوىء نو په دغه وخت كښې چه ستاسو روح تاسو دعا كولو ته رابولى او تاسو دعا كولو ته اړ كوى، نو په دغه وخت كښې تاسو دخپلو اوښكو سره په لنډو ستر ګو دغه ميدان ته ور ګډ ېږىء.

نو دغه وخت به څو مره نيكمرغه او مسعود وى چه په دغه وخت كښې ستاسو روح تاسو بيا بيا دغه ميدان ته وروړاندى او مخ كښې كړى.

تاسو هم دغه ميدان ته په ښه ډول ور ننوزىء دخپلو آهو نو او اوښكو سره په پوره ډول دغه ميدان ته ور داخل شىء. او څو څو واره دغه ميدان ته د اوښكو او ژړا ګانو او آهونو سره ور داخل او په ډيره خندا او خوشحالى له دغه ميدان څخه بېرته راووزىء!.

په كوم وخت كښې چه تاسو په دعا مشغولېږىء او په دغه ميدان كښې ځانونه ورك كړىء نو تاسو دې حقيقت ته ملتفت اوسىء چه تاسو په دغه وخت كښې بوى داسى فضا او ماحول ته ور پورته كېږىء او دداسى خلكو دار و احو سره يو ځاى كېږىء چه هغوى په دغه وخت كښې ددعا دپاره لاسونه پورته كړى وى او له دينه وړاندې تاسو دهغوى سره نه ياست يو ځاى شوى نو بايد تاسو د دعا او مناجات په خونه كښې ستاسو قدم بى د وصال ددغه كيف د حصول څخه د كوم بل مقصد دپاره كښې نه ښودلاى شى.

دا ځكه چه تاسو دغى خونى ته يوازى دغو ښتلو او د كوم شى د اخيستلو دپاره ورځىء، نو په دغه صورت كښې به تاسې ته هېڅ شى در نه كړېشى.

ACKU

که تاسو دغه دربار نه واځئ د عجز دمظاهرې دپاره ورځئ نو په دغه صورت
کښې به تاسو شرمنده بیرته راځئ .

که تاسو دغه ځای ته بواځې دنورو دحق دسفارش دپاره ورځئ، نو تاسو
په کوم حیثیت او مقام دغه کاروته کوئ چه دهغه په اثر ستاسو خبرو منله شي .

نو ستاسو دپاره ښه کار دادی چه تاسو دغه نامعلوم ځای ته په نا معلومه
طریقه ورځئ .

زه تاسو ته دغه ښتلو او سوال کولو الفاظ او طریقه نشم ښودلی او نه ما ته
دغه الفاظ او طریقه معلومه دی .

په دغه معبد کښې ستاسو الفاظ هیڅوك نه اوري تر څو چه دغه الفاظ هغه
الفاظ نه وي چه هغه الفاظ دغه مقدس پاك روح ستاسو په خوله کښې اچولي وي .

زه تاسو ته دسمندر و نو او غرونو او میرو او دا کونو دعا گاني نشم
دربښودلی مگر تاسو چه ستاسو دپاره داغرونه او دا کونه تول پیدا شوي دي
په خپله دهغو دعا گاني به خپلو زړونو کښې موندلای شئ

که تاسو دشپې په تورو تیارو کښې ښه ځیر شئ او غوږ کښېږدئ نو تاسو به
دسمندر دڅپو او دا کونو دغو او بو تر څخه داواورئ :-

ای زمونږ خدایه! ته زمونږ دوجود خالق یې! او مونږ ستا دحقیقت عکسونه یو،
ستا رضا په مونږ کښې ده، کوم حکم چه نه کوې هم ستا دمطلب جذبه په مونږ
کښې په ده چه هغه جذبه مونږ ته ستا طلب رابښیي!

ستا تقاضا هم هغه ده چه زمونږ دشپو څخه چه ستا شپې دي ور ځې جوړه وي
هغه ورځې چه هغه هم ستا ورځې دي، مونږ له تا څخه هیڅ نشو غوښتلای، او

ACKU

داځکه چه تهٔزموږ داحتیاجاتو څخه دهغو ډیبدا کولو نه ډیر ښخوا خبر او واقف یې !

هم تهٔزموږ ضرورت ئې اوهم تاتهٔزموږ احتیاج دی .

هر کله چه ته موږ ته دخپل وجودڅخه بوه برخه راکړې چه هغه بايد موږته راکړېشی نوموږ له تاڅخه نورڅه وغواړو ؟ !

— ۲۳ —

ببا یو جوګي چه یه کال کښې یوځل ښاراووداني ته راته راووانديشو او يوښتنه ئې وکړه :

موږته دعيش به شااوحوا کښې څه ووايه!

هغه ورته په ځواب کښې وويل:

عيش دآزادی بوه بدله ده .

مګر يه خپله آزادي نه ده .

بلکه هغه ستا سو دهلبو بوه غوټي ده

مګر دآزادی ميوه نه ده .

هغه دقفس د مارغه يو پراوزدی .

مګر ديرواز فضاته ده - اوته يه خپله پروازدی .

يه ديخبره کښې شك نشته چه عيش دآزادی بوه بدله ده .

زه يه دې ډير خوشحاله شم که تاسو دخپل زړه دهيلوسره دغه بدلی ووا يیءِ او زه ستاسو دغه بدلې يه خپلو غوږوواورم .

مګر زه ځانه غواړم چه ناسو خپل زړونه دعو بدلوته وسپاری.

که څه هم ځینی ځوانان ددی شی دپلټنی دپاره دومره کوښښ کوی چه ګویا دغه ددوی دژړندون محصول دی.

بیا ناسو په دغو تنقیدونه کوی. او هغوته په قهر کیږی،

مګر زه نه په هغو تنقید کوم، او نه هغوته قهر کول خوښوم.

بلکه زه خودا غواړم چه هغوی خپل عیش جاری وساتی.

داځکه چه که هغوی عیش وموند، نو بیا ځی به ئی نه مومی.

دده (۷) خوبندی دی او په هغو او کښی دغه خور چه په ښکلی توب کښی له ټولو څخه کمه ده، هغه هم دعیش نه ډیره زیاته ښکلی ده.

آیا ناسو دهغه شخص قصه نه ده اوریدلې چه دا کوښښ ئی کاوه چه یوه ونه له بیخه راوباسی مګر په دغه لړ کښی ئی ددغی ونی لاندې هغه یو پټه خزانه وموندله، او په ناسو کښی اکثر ډیر سپین ږیری او پخوانی خلك تری ښادی او عیشونه په یو داسی ارمان او حسرت یادوی چه ګویا هغه یوه غټه ګناه وه چه له دوی څخه د مستی او بی هوښی په حالت کښی صادره شوې وه.

مګر ښښیما نی خوداسی مثال لری لکه چه انسان په زور دزړه سترګی په یو توکر وتړی او پټی ئی کړی.

مګر دغه کار دیوی ګناه سزا نشی کیدلای.

دوی ته به کار دی چه دعیش او عشرت تیروختونه په ډیره شکر ګزاری سره یاد کړی او داسی ئی یاد کړی لکه څنګه چه خلك په حاضر کال کښی دتیر کال شنه فصلونه او سمسور باغونه یادوی.

ACKU

خوا تان وی چه په عیش پسی و گرځی او نه دومره زاره دی چه په تیرو عیشو نو پسې
ارمان نو نه کولای شی .

دوی له تلاش او باده څخه دومره وېره کوی چه په هر حالت کښې ور څخه کرکه
او نفرت کوی داځکه چه دوی دا کار نه غواړی چه د خپل اعلی روح څخه صرف
نظر و کړی او یا د تیرو وختو په یاد او په موجوده وخت کښې په عیش او عشرت پسې
د گرځیدلو په اثر خپل اعلی روح ته تکلیف ورسوی .

مگر دا د دوی د عیش او عشرت څخه کرکه هم په حقیقت کښې د عیش یو صورت دی .

او په دې صورت کښې هم دوی په ریږدیدونکو لاسونو دونی رهښې کښې
او راباسی ئی مگر دوی د دغه کار په ضمن کښې دیتمی خزانی پلټنه هم کوی !
تاسو خو ماته داخبره راوښیی چه هغه څوك دی چه خپل روح د عیش څخه
محروم کولای شی ؟

آیا په کوم وخت کښې چه طوطیان د توری شپې په خاموشیو کښې بدلې وایی !
او چغیږی ! او یا اور اورکی ( کرم شب تاب ) د شپې په تیارو کښې ځلیږی .
نو دوی په ځلیدو دغو کارونو خپل روحونه خپه کوی ؟

او آیا ستاسو داور لمبې او ستاسو داور لوگی د هوا په اوږو باندې بار کیدلای شی ؟

آیا تاسو دا عقیده لری چه ستاسو روح یو تالاب او یا بوډندوکی دی چه تاسو
دیو کوچنی لرگی او یا بل شی په اثر دغو په اوبو کښې تلاطم پیدا کولای شی ؟

حقیقت دادی چه تاسو غواړی چه د لذت د ترك په وجه کښې خپل
خواهشات د خپلو وجودونو په تیارو کښې پټ کړی ، او په دی وخت کښې دافکر

ACKU

هم کوی چه د خواهشاتو پښتول په حقیقت کښې د خواهشاتو پرېښودل دی .

مګر دا خبره چا ته معلومه ده چه دغه شی چه نن ئې په ظاهر کښې تاسو پرېږدی هغه به سبا ستاسو تر لمنې لاندې غلی او پټ ناست وی. منتظر او آماده روح خو لا څه کوی ستاسو دا فانی جسم هم د خپل فطری وراثت یعنی د خپلو ضروریاتو څخه بې خبره نه دی او نه تاسو دغه فانی جسم کمله تېر ا یستلا شیء ستاسو جسم د روح رباب دی چه د دې رباب په تارو نو ستاسو د روح موسیقی نځا کوی .

مګر دا خبره ستاسو په قدرت او اختیار کښې ده چه د غه رباب له تارو نو څخه بوه خوږه نغمه را پیدا کړی او که بوبی ربطه زوږ

په دې صورت کښې به تاسو دا فکر کوی چه مونږ به د دې خبری امتیاز څنګه وکړی شو چه په عیش کښې کوم د ول عیش ښه دی او کوم د ول ئې خراب ؟

خپلو پټواوباغونو ته ولاړ شیء !

په د غو ځایو کښې به تاسو ته دا خبره او حقیقت معلوم شی چه د شاتو د مچی دپاره حقیقی عیش دا دی چه هغه د ګلانو څخه د شاتو مواد را غونډ کړی او د ګلانو عیش دا دی چه هغه خپل شات د غو مچیو ته ور کړی .

او د ګلانو دپاره د شاتو مچی د مینې د یو مرشد حیثیت لری .

او دی دواړو دپاره طلب او تسلیم دا نبساط شرط دی .

ای د عرفې خلکو! تاسو په خپل عیش کښې د شاتو د مچیو او د ګلانو داستان مه هیرو یء !

ACKU

-٢٤-

بیا بو شاعر له دغو خلکو څخه را ووت او دا یې وویل چه :

« مو نږ ته دحسن دتصور په شان او خوا کښې څه و وایه » !

هغه و ویل :

تاسو به حسن کوم ځای اوخنډکه و مومی ؟ !

مګر دا چه په خپله تاسو ته په کومه لیار کښې مخې ته د رشي ، او یا ستاسو دلار ښوونی دپاره تاسو ته کومه اشاره و کړی او تاسو به په کوم ډول د هغه ذکر په خپله ژبه و کړای شئ ، مګر دا چه هغه په خپله ستاسو په ژبه خپل ګفتار جاری کړی .

که څه هم هجران ځپلی او بیلتانه کړو لی خلک داعقیده لری چه . حسن مهربانه دی ، د حسن ګرفت ډیر نرم دی ، او حسن د بوی شرمنا کی پیغلې په څیر ځورند سر او تیټې ستر ګې زمو نږ په منځ کښې تیریږی .

ځینی وائی : داسی نه ده بلکه حسن دطاقت دیوه داسې خوفناک رب النوع نوم دی . چه دیو طوفان په څیر زمو نږ د پښو لاندې ځمکه او زمو نږ د سر دپاسه آسمان رپیږدوی .

او کمزوری خلک داوائی چه :

حسن دیو غلی او ورو آواز او یا یو سپک او خفیف راګ نوم دی چه زمو نږ په روح کښی ورووروبودول ترنم پیدا کوی .

او دغه آواززمو نږ په خاموشیو او روح کښی داسی تاثیر کوی لکه څنګه چه یو ضعیف څراغ په نوره تیاره کښی تاثیر کوی .

مگر کوم خلک چه مضطرب او پریشانه اووار خطا او ذوق به د رباب کښې لاهو دی هغوی و ائي چه :-

مونږ دهغه دنالندی په خیر آواز په غرونو او درو کښې اوریدلی دی. چه دده دغه آواز سره د اسونو دپښو او دلوبو لوبو مرغانو دوزرونو پرهار او دزمرو دغرمبار آوازونه اوریدل کیدل.

کوم خلک چه د شپې په ښارونو کښې څوکیداری کوی هغوی وائی چه: حسن سبا روښتی دلمر خاته له خوا څخه راځی.

کوم خلک چه په تـکنده غرمه کښې په فصلونو کښې کار و نه کوی او یا په دغه وخت کښې مسافران په لارو کښې په خپل مزل بوخت وی هغوی داوائی چه:

« مونږ په خپلو سترگو ولیدل چه حسن د لمر پرېوتلو په وخت کښې د اسمان دور بڅو څخه دځمکې خوا ته کښتل.

او هغه خلک چه په ژمی کښې دهغوی د کورونو په مخ کښې دواوروږی ویرتی وی داوائی چه:

حسن د پسرلی سره په داسې حال کښې چه په غرونو او درو کښې نڅا اوخوشحالی کوی راځی »

کوم خلک چه ددوبی په تـکنده غرمه کښې د فصلونو لوونه کوی هغوی داوائی چه: مونږ د حسن نڅا د خزان وهلو پانو په هغه نڅا کښې چه د را غور ځیدلو په وخت کښې ئې کوی لیدلې ده.

مونږ حسن په داسې حال کښې لیدلی دی چه دهغه د سر په زلفو سپینی واوری

برنئ وي .

تاسو كه په هر عنوان له حسن څخه بحث كوىء اليكن په حقيقت كنبى ستا سو دغه بحث له حسن څخه بحث نه دى بلكه ستاسو دهغو خواهشاتو اوضرورياتو بحث دى چه هغه لاتراوسه نه دى ترسره شوى، مگر تاسو په دې حقيقت بوه شىء چه حسن په حقيقت كښې دضروروتونو او خواهشاتو نوم نه دى.

بلكه حسن يو كيف دى - يو ډيرعالي كيف .

حسن ديو تبزى انسان دوچوشونډو او يا ديو سايل داوږ دګرى لاس نوم نه دى . بلكه حسن زړه دى ـ كوم زړه؟ هغه زړه چه طلب دجوش او غوښت له شكرو تو څخه ډك دى .

حسن يو روح دى ـ كوم روح ' هغه روح چه مسحور او شيدا دى .

حسن نه د كومى مجسمې نوم دى چه په معبد كښې پرته وى او خلك ئې په سترګو وينى .

او نه حسن د كومې بدلې نوم دى چه تاسو ئې دساز په نغمه كښې په خپلو غوږو او رېدلاى شىء !

بلكه حسن د هغه نقش او تصور نوم دى چه په پټو سترګو ليدلى كېږى او يا هغه نغمه ده چه په بندو غوږو نواورېداې ' كېږى !

حسن دچا په لاسو كښې نيولى شوى وزر نوم نه دى .

بلكه دحسن د هغه باغ نوم دى چه دخزان څخه تل مامو ن اومحفوظ وى

حسن دملا بكود هغو يا كونغمو نوم دى چه تل ئې په قضا كښې خوږى انګازى خپرى وى .

ای دعرفی خلکو! تاسو په دي یوه شیء! چه حسن ژوندي ,
یعنی په هغه وخت کښی چه حسن دخپل مقدس مخ نه پلو پورته کړی !
مګر! تاسو د حیات مظهرات ـ او تاسو هغه پلواو نقاب باست چه! دغه مخ
موبټ کړی دی . حسن هغه ابدی شی دی، چه تل خپل عکس ستاسو دژوندانه
په هنداره کښې ګوری !
او هم تاسو ابدی حسن او دژوندانه هندارې یاست !

-۲۵- بیا یوه ملا وویل :

«مومنزته دمذهب په شاو خوا کښی څه ووایه !»
هغه وویل !
آیا نن ما پرته لهمذهب څخه تاسو ته د بل کوم شی بیان هم کړی دی
آیا ستاسو هغه اعمال او خیالات چه ماد هغوذ کرو کړ له مذهب څخه کوم
جلا شیان چه دی ؟
اویا هغه شیان چه هغه د اعمالو او خیالاتو څخه لیری وی، دمذهب نه خارج شیان دی
په روح کښې پیدا کیدونکي هره لمحه او د حیرت هغه نقش چه پر هر حال
کښی تل ته جلا رنګ او نمود لری ـــ که تاسو د سر کو نود یاره تیږ ي
ماتویء په دغه حال کښې هم ـ او که تاسو په نور و ځایو کښې کسب او
کارونه کویء په دغه وخت کښی هم دغه ستاسو کارونه دمذهب څخه کوم
دباندې او خارج شیان دی ؟-
آیا داراز څوك نشته چه هغه خپل اعمال دخپل ایمان څخه بیل او جلا کړی شیء
اویا خپل شغلونه له خپلو عقاید وڅخه جلا وساتلای شی؟

هغه څوك دی چه هغه دخپل ژوندانه په ساعتونو په خپل مخ کښې وغورځوی او وايي:
چه دا ساعت دخدای دپاره دی او دا ساعت زما د روح دپاره دی او دا ساعت زما د جسم دپاره دی.

ستاسو ټول ساعتونه دمرغانو دوزرو په شان، چه د ژوندانه په فضا کښې ستاسو دحرکت سره سم حرکت کوی.

هغه خلك چه هغوی خپل ښه خوی نه داسی استعمالوی لکه څوك چه يو ډير او قيمتی لباس استعمالوی - نو که دا دول خلك ټول بربنډ اوسی نو ډيره به ښه وی.

او دا دي دپاره لمر او باد و نه ددوی په وجودونو کښې سوری و کړی!

او کوم شخص چه خپل عمل دا صول لواويا د کوم مخصوص علم الاخلاق په چوکاټ کښې د ننه استعمالوی.

هغه داسی مثال لری لکه چه دی خپل ښکلی مارغه په يو قفس کښې د ننه بند ساتی آزاده نغمه هغه شی دی چه د دغه قفس له سيخونو سره نښلی او د باندي ورځخه راوځی.

هغه شخص چه هغه خپل عبادت ديوې کړکۍ په څير گڼی - چه کله ئي پورې کوی او کله ئي بېرته کوی - ددې شخص دخپل روح ځاله قطعاً نه ده ليدلې دهغه محل کړکۍ دمشرق نه ترمغربه پورې ټل بېرته وی!

ستاسو دروزانه ژوندما حول - چه په دغه ما حول کښې تاسو خوراك څكاك کوی، او بيده کيږی - ستاسو مذهب او ستاسو معبد دی.

په کوم وخت کښې چه تاسې دغه معبد ته ور ننوځی! نو په دغه وخت کښې تاسو

ACKU

خپله تو له یانگه د غه معبد ته دخپل خان سره وړی !- بو تبر – ښتهك او حیله شپیلی.

اوهم خپل تول هغه سامان دخپل خان سره دغه معبد ته وړی ء چه تاسو دخپل عیش او عشرت دپاره تیار کړی دی.

داځکه چه د تسلیم په دې نړۍ کښې تاسو نه له خپلو کامیابیو نه جګ او پورته تللای شیء او نه دخپلو ناکامیو نه د یر کښته غور ځیدلای شیء.

تاسو معبد ته دخپل ځان سره تول انسانان هم بوسیء . اوداځکه چه نه تاسو ددوی دهیلو او ارزو ګانو سره جګ او پورته اللو تلای شیء او نه تاسو ددوی دنا مید یو او ما یوسیو له کبله کښته غورځید لای شیء.

که تاسو غواړیء چه دخپل ژوند به حقیقت ځان بوه کړیء نو معما ګانی مه حل کویء !

بلکه دمعما ګانو دحل کولو په ځای خپل ماحول ته ځیر شیء.

په دغه صورت کښې به تاسو وګوریء چه ستاسو دحیات بانی د کوچنیانو سره لوبی کوی .

او که تاسو به فضا کښې ځیر شیء.

نو تاسو به دغه ستاسو دحیات بانی دوریځو په لمنو کښې به خندا وو ینیء !

تاسو به هغه دبرېښنا په لمنو کښې به داسې حال کښې چه دواړه وزر ونه ئې دخاد ر په څیر خپاره کړی وی دباران سره ځمکی ته د را تلو په حال کښې و ګوریء .

ژاسو په دغه دخپل حیات بانې په ګلا نو کښې د مسکتیا په حال او دو نو په یانو کښې د اشارتو نو کو او یه حال کښې و ښئ !

تاسو په دې حقیقت پوه شئ چه دغه موندل دومره ګران نه دی څومره چه تاسو فرض کړی دی

تاسو د مذهب څخه یونوی او نا اشنا شی مه جوړوئ !

تاسو مذهب ته نوی کالی مه ور اغوندوی او نه دده شکل ته ډول ډول رنګونه ورکوئ !

دی په خپل هغه فطری رنګ په خپل حال پریږدئ په کوم فطری رنګ چه تاسو رنګ شوی یاست !

دا کار ستاسو دپاره ډیر ښه او ګټه ور کار دی

یو فقیر وویل ښه نو ته مونږ ته د مرګ لږ حال هم واوره !

هغه یو ښتنه وکړه تاسو غواړئ چه د مرګ حال معلوم کړئ ؟ فقیر ورته وویل «هو» هغه په جواب کښې ورته وویل :-

تاسو تر هغې د دې راز په حقیقت نشی پوهیدلای تر څو چه تاسو د دغه راز پلټنه په خپل ژوند کښې ونه کړئ .

مرګ په ژوندانه کښې د بوی پټې خزانې نوم دی - مګر مرګ د ژوند په خیر یو ښکاره او ظاهر حقیقت دی

مګر د کونګ (بوم) سترګې چه د شپې په تیاره کښې لیدل کولای شئ د ورځې رونیا به ځنګه وکتلای شئ ؟

که تاسو غواړئ چه د مرګ په راز پوه شئ ! نو د ژوندون دپاره او د هغو شیانو دپاره

چه په ژوندانه کښې، وي د خپلو زړونو دروازې بېرته نه کړيء.

دا ځکه چه ژوند او مرګ دواړه په حقيقت کښې يو شی دی، او يو نوعيت لري، لکه څنګه چه سمندر او دريا ب ستاسو د خوښئ او هيلو په اعماقو کښې د ژوندانه دسيند په خصوص کښې ستاسو خامو شی مستوري وي.

لکه څنګه چه د واورو د پړو لاندې دونو او بوټونيخ زړي د پسرلي د موسم خوبونه وينې.

دراتلونکي وخت انتظار کوي ـ په خپل زړه کښې د ډېر و هيلو سره همدغه راز تاسو هم په خپلو خوبونو باور او اعتمادو کړيء.

هم په د غو هيلو او خوبونو کښې دابدالآباد د روازه پټه ده.

دمرګ څخه ستاسو په زړونو کښې ويره داسې مثال لري لکه څنګه چه يو شپون دخپل بادار په حضو کښې دو ډانډې کېدلو او درېدلو څخه ويره کوی سره ددې چه دغه شپون به دې خبره پوره باور لري چه دد ه بادار به دده په سر د شفقت لاس را کښېږدي، مګر سره ددې همدغه شپون بيريږي او ډېره کوی.

نو آيا ددغه شپون به ريږدېدو نکي وجود کښې به د خوښئ لپاره حرارت موجود نه وي ؟

په هر حالت کښې په د دغه ويره دغه به خوښئ لپاره غالبه نشی ؟

مرګ دی څه شی ؟

مرګ پرته د داورې دغه ډېرې نه بل شی نه دی چه هغه ډېرې ستاسو د جسم په څير په لمر کښې پروت دی، او د لمر حرارت هغه ډېر ی په تدريج سره ويلی کوی.

دغه واوره به داسې او به شي لکه څنګه چه ښخوا و به کېدې-او بېدلی به داسې به
د سیند سره یو ځای شي لکه چه وړاندې او ښخوا وې .

او دغه د ریاب به بیاد سمندر په وسعت او عمق کښې خپل ځان فنا کړی .

د سا دو تلو معنی څه ده ؟

د سا دو تلو معنی پرته له دې بل شی نه دی چه نفس د خپل مضطر با نه نفس
څخه خپل ځان آزاد کړی او په آزاده فضا کښې والوزی او په دغه آزاده
فضا کښې بې له کومې پابندی د څخه اوتل و کړی او په دغه آزاده فضا کښې
د کمال مطلق په پلټنه بوخت اوسي !

نو په دغه وخت کښې که تاسو د خاموشۍ د سیند څخه یو ګوټ او به
وڅکی نو په دغه وخت کښې به هم دغه ورخ ستاسو نغمې د ماورای حیات
په اوږدو کښې خپرې شي .

هر کله چه تاسو د غرو نو څو کو نه ورجګ شي !

نو له دغه ځای څخه به د حقیقی او اصل غره پېچومی شروع شي .

په دغه وخت کښې به تاسو ځمکه په خپله غیبز کښې ټینګه و نیسي !

په دغه وخت کښې به په ابدی محیط کښې ستاسو فطرت په رقص او نڅا پیل و کړی '



په دې خبرو کښې ماښام شو .

عارفی وویل :

نیکمرغه ده داورځ او دا ځای چه ستا روح پکښې مونږ کره خبرې کوی .

هغه وویل :

آیا زه یو ائحی و یم نکی وم ؟

آیا زه او ریدونکی نه وم ؟

داسې ئې وویل او د معبد له پوړونه کښته شو او ټول خلک په ده پسې روان شول او دی خپل جهاز ته ور ورسید .

دی په خپل جهاز کښې سپور شو .

دی په جهاز کښې سپر پدلو نه وروسته د جهاز په بام و دریده او د عرفې د خلکو خوا ته ئې وکتل . او په جګ آوازئې وویل !

اې د عرفې خلکو ! هوا ما ته وائې چه دی دی له تاسو څخه اوس رخصت شي .

تاسو ته دې دا خبره معلومه وی چه زه دومره ګړندی نه یم څومره چه هوا ګړندی ده .

لیکن سره ددې زه دا اوس له تاسو څخه تلونکی یم .

ما بیا بیاد هوښیې د تللو دعوت را کوی .

زه دد وی دغه دعوت او بلنه د کوم ډول رد نه کړم .

مګر سره ددې زه غواړم چه دوروستی سلام نه وروسته زه تاسو ته یو دوی خبرې وکړم .

زمونږ مثال دهغو آوره ګردو او خوشو خلکو په څیر دی چه تل په خوشولا رو او خوشو دا ګو نو اورغو کښې ګرزی .

مونږ چه په کوم ځای کښې دخپل ژوندانه یو ورځ تر پایه رسوو په هغه ځای کښې دخپل ژوندانه دو همه ورځ نه شروع کوو .

ACKU

اوهره ورځ چه لمر راخیژی مونږ په بیل بیل ځای وینی .

لمر د یر یو تلو په وخت کښی مونږ په یو ځاي کښی پر یږدی، او د ختلو په وخت کښی مو په بل ځای کښی وینی .

په هغه وخت کښی چه د نړۍ خلك په خوالږه خوب په آرام و یده براته وی مونږ په هغه وخت کښی هم د مسافرو په څیر په مزله روان او بو خت بو مونږ دیوې سخت سر ی و نی تخمونه یو .

زمونږ د فطرت په تکمیل کښی د اعادات د و دیعیت او امانت په ډول ایښو د ل شوی دی، او دادې د پاره چه ځانو نه هوا ته وسپارو او په هوا کښی محو ه، او خپاره شو،

که څه هم ما په تاسو کښی لږی ورځی تیرې کړې لیکن له تاسو سره مې د یر زیا تی خبر ی و کړ ې .

لیکن زما دغه خبرې د یرې مجملې دې، او ستاسو غوږونو ته مې د یر لږ او مجمل پیغامو نه وررسول .

لیکن سره د دې هم که زما آوازونه ستاسو په غوږونو او زماهینه ستاسو په زړو نو کښی یا ته وه نوزه به بیا تاسو ته راشم . او بو ځل به بیا تاسو ته هغه پیغا مونه واوروم .

په هغه وخت کښی چه دسمند ر څپې ستاسو لورته بیرته راروانی شی نوزه به د هغو څپو سره راشم که په دغه وخت کښی مرگ زما په وجود د عدم پرد ې وغوړ ولې اوزه ئې د سکوت اوخا موشی په غیږ کښی د همیشه د پا ره

ACKU

بیده کړم نو په دغه حالت کښې به هم زه یوځل بیا ستاسو او د خپل ځای پلټنه او تکل وکړم.

زه په دې پوهېږم چه زما خبرې به تاسې کامې نه شي.

هغه مستقبل چه تاسو ته دومره نژدې دی لکه څومره چه له تاسو څخه ماضي لیرې دی.

هغه مستقبل به زما پیغام په داسې صافو او ساده الفاظو کښې چه ستاسو د افکارو او خیالاتو سره به ډېر قریب او نژدې نسبت لري په واضح ډول بیان کړي

نو که زما پیغام حق وي - او یا یې کښې د حق کومه شائبه موجوده وي.

نو په دې خبره کښې شک نشته چه تاسو به زما دغه پیغام خپل د مستقل په تند ی کښې د خلاند ستوري په شکل وګورئ،

که څه هم زه د هوا د څپو او د بحر د امواجو سره روانېږم او ځم او له تاسو څخه جلا کېږم.

مګر اې د عرفې خلکو! د عدم په خلا کښې نه بلکه د حیات او ژوندانه به مضبوطو تړو.

لیکن که دا ننني ورځ ستاسو احتیاجات او زما مینه نشي پوره کولی نو د ې ننني ورځې ته په مستقبل کښې دیوې بلې راتلونکې ورځې وعده ور کړي که څه هم د انسان په ضروریاتو کښې تغیر پېښېږي مګر د انسانانو په مینه کښې تغیر نشي پېښېد لای، او نه د انسانانو په دې خواهش کښې چه د دوی مینه به د دوی ضروریات تکمیل کړي شي کوم تغیر پېښېدلا شي.

ACKU

نو تاسو زما دا خبره په زړه کښې وساتئ چه زه هم ستاسو په شان یو انسان یم
او زه هم مینې او محبت ته احتیاج لرم.

نو له دې کبله که زه د یو عظیم سکوت په لمنه کښې بیده هم شوم.
تاسو ته به بیا بیا راځم.

هغه دوند او لړه چه د لمر د ختلو په اثر د پرخې په څېر الوځي او په فضا کښې
بېرته کلکېږي او د کلکېدلو نه وروسته بېرته وریځ کېږي او بېرته ځمکې ته
د باران په شکل راځي زما حال به هم کټ کټ د دغې لړې او دوند په څېر وي
زه ستاسو په لیارو کوڅو سړکونو او بازارونو کښې د شپې په خاموشیو
نور او تیارو کښې د هر کړ زېدلی یم.

زما روح ستاسو په کورونو کښې د هر ز بات ګرځېدلی دی.

په کوم وخت کښې چه به تاسو بیده پراته واست نو زه به ستاسو سرونو ته
ولاړ وم او ستاسو د پاره به مې دعاګانې کولې.

ستاسو زړونو زما په زړه کښې د هر تو یونه وهلي دي.

ستاسو ساګانې زما د ساګانو سره ګډې او مخلوطې شوې دي!

ستاسو وجود و نه زما په سترګو کښې رسم شوي دي.

نو ز تاسو د هر شه پېژنم.

زه ستاسو د غمونو او خوشحالیو نه خبر یم.

کوم خوبونه چه تاسو د خوب په حالت کښې لیدلي دي هغه په حقیقت
کښې هغه خوبونه دي چه ما ستاسو په حق کښې په وېښه لیدلي دي.

زما وجود په تاسو کښې داسې مثال درلود لکه ځنګله چه په یوه غره
کښې د اوبو یو لوی ډنډ وي.

ACKU

زما په خاموشیو کښې به ستاسو د کوچنیانو تبسم دد ریاب د طغیان په څېر داخلېده او زمازړه ته به ستاسو د ځلمو ارمانو نه د موجونو او څپو په څېر راننوتل. چه ترڅن ورځې یورې زما په وجود کښې خپلې بدلی وایی.

مګر یو بل شی هم - چه له هغه تبسم څخه ډېر خوږ دی - او د هغو هیلو نه ډېر قوی دی، زما په وجود کښې را ننوت چه هغه ستاسو د لاتنا هی وجود څخه عبارت دی!

هغه محکم وجود چه په هغه کښې ستاسو جسم د یو موتی غوندې او یو سنکی حیثیت لری.

هغه وجود چه د دغه وجود د ساز په نغمو کښې دده د ترنم نوی زغ په ډېر مشکل سره اوریدلی شی.

باید تاسو په دې پې نهایته وجود کښې بی نهایته او بیکران شی او په دې لړ کښې ما ستاسو اصل او حقیقت و پیژا نده او دغه اصل ماته د مینی اصل او حقیقت را وښود.

محبت څومره او ږدې او ږدې فاصلې طی کوی، چه دی ددغو فاصلو د طی کولو نه وروسته خپل اصلی مقام ته رسیږی.

کومه هیله، کومه توقع، او کوم تصور دی چه له دې فاصلې څخه ډېره فاصله طی کړای شی؟

د شاه بلوط هغې غټې ونې په څیر چه ګلان وربانديې غوړیدلی وی ستاسو په وجود کښې د یو محکم وجود مقام او حیثیت لری،

چه د هغې قوت تاسو په ځمکو قائم ساتی، او د هغې وزمې تاسې په بسیطه فضا کښې یورته کوی.

ACKU

او د غي وزمې په ابد بت کښې تاسو د جاودان عمر خاوندان کېدلی شی!

تاسو، ته خلکو ویلی دی چه ستاسو د ځنځیر هره بوه کړۍ کمزورې ده!

لیکن دا خبره تو له رښتیا نه ده.

ستاسو د ځنځیر هره کړۍ چه څومره کمزورې ده، دومره کلکه او مظبوطه

هم ده د کوم یو حقیقت او جزوی عمل سره ستاسو د مجموعي اهلیت اندازه

کول داسې مثال لری لکه چه څوك د سمندر له ځګو نو څخه د سمندر طاقت

تخمین او اندازه کړی.

هو! تاسو سمند و یاست!

لویه لوی جهازونه ستاسو په سا حل د مد او جذر ا نتظار باسی،

لیکن تاسو د سمند ریه شان په خپلو حدودو کښې بند او محدود یاست

او تاسو دا قدرت او اقدار نه لرئ چه د خپل مد او جزر رفتار تیز او یا سست کړئ!

لیکن سره ددې هم مد او جزر هم ستاسو دی او بس.

تاسو د نړۍ د مو سمونو په څیر یاست! چه ستاسو ژمی پسرلی ته د را تلو

موقع نه ور کوی.

مګر حقیقت دا دی چه په هر ژمی کښې پسرلی پټ پروت دی او خندا کوی

او قطعا نه وار خطا کیږ ی

تاسو دا خیال مه کوئ! چه دا خبري زه تاسو ته ددې له پاره کوم چه

تاسو ئې ترما وروسته یو بل ته وکړی! او یو بل ته ووائی چه وګوره! هغه

زمونږ څومره تعریف وکړل

ACKU

تاسو ددې خبرې ګرېږئ ګوئ ! چه زما په الفاظو ځانونه پوه کړئ!
زه خو په حقیقت کښې تاسو سره په هغو الفاظو خبرې کوم چه هغه الفاظ
په مونږ کښې پیدا شوی دي. او د هغو معنی زمونږ په زړونو کښې محفوظه ده
او د علم کومه پانګه او سرمایه چه د الفاظو په ذریعه زمونږ لاس ته راغلې ده
هغه څه شی دی؟.

د هغه علم په مقابل کښې چه بی د الفاظو د ذریعې مونږ ته راسېږی
او زمونږ لاس ته راځی.

ستاسو او زما الفاظ د تېرو وختونو او ماضی د هغو دننشوو او بومونو نه
راوتلې دي چه د تېرو وختونو د سیندو او دننشوو او بوڅخه پیدا شوی دي.
یا د غه الفاظ د قدیم عهد د نیا ر و هغه موجونه او څپې دي چه د هغو په لمنه
او څنډو د نوی عصر و پانګې لوېدلې وی.

کوم پوهان او د عقل خاوندان چه د هغو بېړیو په د عو څېو باندې سپاره راځی
هغوی ار و مرو تاسو ته د خپلې پوهې عقل او فکر څخه لږ د پره برخه در کوی.
زه په خپله هم په دې پسې تاسو ته راغلی یم چه زه هم ستاسو د پوهې او عقل
څخه څه برخه واخلم ! تاسو د ي حقیقت ته خبر او ملتفت شی! چه ما له تاسو
څخه هغه شیان لاس ته راوستل چه هغه یعنی دروح هغه پخوانی شغله چه
په تاسو کښې بله ده! او ورځ ترورځه روښانه کیږی

لیکن په کوم وخت کښې چه تاسو ددغې شغلې له وسعت څخه غافل شی،
او د خپل عمر د لنډوالی څخه شکایت کوی!

ACKU

نو تاسي په اصل او حقیقت نه یو هیږئ چه: مرګ د هغه تازه حیات نوم دی
چه د یخوانی ژوند سره تړلی دی' او په هغو فانی اجسامو کښي پلټنه کوی چه
هغه د قبر له ویری تل د یږدی '

مګر زما په نړۍ کښي د قبر نوم او نښانه نه شته !

زما په نړۍ کښي نه مرګ شته او نه قبر ' نه هدیره او نه کفن !

داستاسو غرونه او دا ګو نه یا حقیقت کښي ستاسو د کوچنیانو خانګو ګانی
دی. او یا د ژوند لومړی یوړی دی یه کوم وخت کښي چه تاسو په دغو ډاګونو
او پټیو کښي ګرځئ . یعنی په هغو ځایونو کښي چه په هغو ځایونو کښي
تاسو خپل پلرونه او نیکونه هیرخ کړی دی' نو تفکر کوی.

د دغه تفکر په لړ کښي ، تاسو په دغو میدانونو او پټیو کښي ماضی بیده او مستقبل
د نڅا په حال کښي وګورئ. او تاسو به دا هم درته پهتر کوګ ریئ چه
د مستقبل لمن به ستاسو د کوچنیانو په لاس کښي وی!

که څه هم تاسو هم نڅا کوی او په خپل دغه کار د ژوند انه خوند او مزه اخلئ.
مګر تاسو په دې حقیقت نه یو هیږئ. چه په نڅا کښي هم کوم یو شی نشته
چه هغه شی د غه کار ته انسان اړ کوی .

پرته له ' تاسو ته ډیر خلك راغلی دی:

او هغوی تاسو سره ډیري غوړی غوړی او غټی غټی وعدې کړی دی .

تاسو هغوي ته د دغو وعدو په مقابل او بدل کښي خپل ایمانونه او خپل
دولتونه او خپل قوتونه د نذر په ډول ور کړی دی.

لیکن ما تاسو سره کومه دومره غټه او غوړه وعده هم نه ده کړی.

سره دد ې تاسو ماسره دومره احسانونه و کړل چه تاسو به هغو پخوانو خلو سره نه‌وی کړی.

داځکه چه‌تاسو ماته دژوندانه یو ډیر اعلی کیف را کړ،

په‌دې خبره کښې شك نشته چه‌له‌دې تحفې څخه بله کومه ښه او قیمتی تحفه نشته، یعنی هغه تحفه چه‌دهغه دژوندانه مقاصدو چ او په تیزو اوو چو شونډو بدل کړی، ددې کار په اثر دهغه ټول ژوند دصافو اوروڼو او بو په یوه خوږه چینه بدل کړی.

ماهم له تاسو څخه دغه ډول انعامونه اوآبرو اوعزترنه موندلی دی.

هر کله چه زه تندی وار خطا کړی یم‌دغی چینې ته‌راشم اود هغی دغه شفافی او خوږې اوبه وویښم نوتنده اوشوق می‌لاډیر شی.

دغه چینه هم‌دې کار ته ډیره تږې او لیواله وی‌چه کوم‌یو تږی دد ې اوبه وڅکی.

یعنی زه دغه چینه څکم اودغه چینه ما څکی!

په‌تاسو کښې ځینی خلك زمایه خصوص کښې داعقیده‌لری چه‌ذی‌یوه‌مجبوب اویا کوم حیاناك اویا مغرور شخص دی.

نو له‌دې کبله به‌زه ستاسو تحفې قبولې نه کړم.

هو! زه‌مغروریم!! لیکن په‌هغه وخت کښې چه‌زماداجرت اخیستلو وخت او موقع را شی.

زه اجرت نشم اخستلې!!داځکه چه زماغیرت مانه ددغې ګناه‌ور کولو اجازه نه‌را کوی.

ACKU

مګرزه مغرور نه يم ! په هغه وخت کښې چه له ما څخه څوك د تحفې د قيلو لو خواهش وکړي. سر ه ددې چه ما په دغه وخت او مو ده کښې په عرو نو او ځنګلونو کښې ګرځنې خوړلي او په دغو شيانو مې خپله خېټه مړه کړې ده سره ددې چه تاسو داهيله درلوده چه زه ستاسو په د ستر خوانو نو کښېننم او ښه ښه شيان وخورم، سره ددې چه زه د معبدو د دروازې په درشل بيده کېدلم ليکن په دغه وخت کښې تاسو داهيله درلو ده چه ز ه ستاسو په کورونو کښې په پستو بسترو بيده شم.

په تاسو کښې ځينې خلک زما په خصوص کښې دا عقيده لرې چه دی يو خلوت پسند شخص دی. ګوياز ه دوې ته يو د پر مست او مغرور ه شخص ښکاريږم،

دوی وايي : داهغه شخص دی چه تل په ځنګلونو کښې ناست وی او دونوسره مشورې او مصلحتو نه کوي، او انسانانو سره خبرې کول نه خوښوي.

داهغه شخص دی چه په غارونو کښې ئې له مونږ څخه ځانته او جلا ئړيد جوړه کړې ده.

په دی خبره کښې شك نشته چه ز ه دغرونو جګو څو کوته خېژم او له دغو جګو څوکو څخه لېږي لیرو خا يو ننداري کوم

ليکن که ز ه دغه جګ ځای ته نه وای ختلي . نو ما به ستاسو د حالاتو مطالعه په بل کوم دول او ذريعه کړې وای- او داځکه چه هيڅوك چا ته نژدې نشي و رنژدې کېدلای ترڅو چه د هغه نه ليرې نشي.

داخبره هم ربښتیاده چه ما دځنګله دونوسره مشوره کولې او په تورو تیاروغارونو کښې مې استوګنه کوله .

مګر دوی ته داحقیقت نه دی معلوم چه ونی او بوټی دفطرت نارینه اولادونه دی ، اودفطرت په رموزاتو پرته له دوی څخه بل هیڅوک نه پوهیږی او نه بل څوک ، زما اودفطرت په منځ کښې له دوی څخه نه او غوره واسطه کیدلای شی .

کوم شیان چه ماستاسو په خصوص کښې دتوروغارونو په تیارو کښې لیدلی دی هغه ماستاسو په رڼا ښکلو کورو او رونو ښکلو کښې چیرې لیدلای شوای ؟

له تاسو څخه ځینو خلکو ماته په ځغو ځغو داناري وهلې - مګر په ژبه نه بلکه په یوه بله ذریعه .

ای اوبره او اجنی ! اوبه ستغواوډیرو جګو پیچومو مینه ! ته په دغو جګو څو کوچه د ګربتو اوعقابونو پر ځا اودی ولی ناست یې ؟

ته هغه شیانو به تکل کښې ولې سر ګرداته ګرزې چه دهغو لاس ته راوستل ستا داقتدار او توان څخه خارج دی ؟

آیا ته داغواړی چه یوه پرلوی طوفان په خیله لمنه کښې ځای اوبندی کړی ؟

که ته داغواړی چه دآسمان تیزبری اودقوی وزرونو خاوندان مارغان په جال کښې ګیراوښکار کړی ؟

له دغو جګو څوکو څخه کښته را کوز شه اومونږ سره ځان یوځای کړه !

مونږ سره یوځه اوسره یوه ی یه خبری !

زمونږ په شرابو خپله تنده ماته کړه!

هغوی ما ته دخپل روح په خلوت کښې دغه خبرې وکړې : مګر دغه خبرې زما غوږو ته خندګه راورسيدلې!

ما وليدل چه دهغوی خلوت کښا مل نه دی.

داځکه کـه د هغوی خلوت کـامل وای، نو هغوی به دا خبره معلومه کړې وای چه د کوم شی په تـکل کښې چه زه بربشانه او سرګردانه په غرو اورغو کښې ګرځيدم هغه فقط او فقط د دوی غم، درد او سعادت ؤ او بس!

زه د دوی د هغه حقيقی وجود په پلټنه کښې بوخت او سرګردان وم چه هغه په آسمانو نو کښې په لوبو بوخت او مصروف و.

مګر افسوس چه ښکاری په خپله ښکار کړ ی شو!

داځکه چه زما له لیندې څخه د ېر هغه غشی چه ما په نورو پسې ويشتلی وو هغه په خپله زما په خپله سينه کښې ښخ شول!

کوم شی چه تاسو په هوا کښې دالوتلو په حال کښې ليدلی ؤ هغه پرځمکه هم ګرځيده!

دا ځکه چه په کوم وخت به د غه شی په فضا کښې الوتی د هغه سيوری به په ځمکه هم پر يوانه.

او سره د دې چه زه د يو قوی ايمان خاوند وم مذبذب هم وم.

داځکه چه ما به په خپلو زخمونو کښې خپلې ګوتې ددې لپاره منډ لې چه ز ه د ېر د رمند شم او ستاسو دردونه په ښه ډول محسوس کړای شم.

زه نن دهغه علم په اساس چه ما ته حاصل شوی دی تاسو ته داوایم چه:
ته تاسو په خپلو جسمونو کښې مقید یاست او نه په خپلو پښیو او کور و نو
کښې دغارونو تیاری اودغرونو څوکی د گربتو (عقابونو) ځالی هم ستاسو
دقدرت او اقتدار نه بهر نه دی مگر تاسو ته داخبره معلومه نه ده .
بلکه کوم شی چه ستاسو دحقیقی وجود څخه عبارت دی هغه دغرونو
څخه ډیر جگ او دفضا څخه ډیر وسیع دی .
هغه دا راز شی نه دی چه له پخنی څخه دځان ژغور او دیاره امر
او پیتاوی ته اړشی او یا دخپل وجود دحفاظت دپاره په تورو تیارو غارو
کښې پټ شی .
بلکه هغه یو داراز نا آشنا اوفوق العاده شی او هغه آزاد روح دی
چه دهغه رڼا کښې څه شیان په نړی کښې دی - غم نه او دردونه او
خوشالی اوراحت او میړه ، دوستی او دښمنی تول په خپلو مخصوصو برو
کښې راونغاړی .
که تاسې داعقیده اوفکر لری چه ستا دغه الفاظ مجمل او مبهم دی .
نو دغه زما خبری په خپل ځای پریږدی .
ځکه دمجملاتو دتفصیل دپاره هیڅ کوښښ مه کوی .
داځکه چه یوه ورځ به داسې راشی چه دغه الفاظ به په خپله د خپلو
معنی کانو دفترونه او تفصیل ستاسو په مخ کښې کښیږدی .

باید تاسو په دې حقیقت پوه شئ چه الفاظ هم د انسانانو غوندې یو ډول ژوند لري .

د دوی په ژوندانه کښې ارومرو یو وخت داسې هم راځی چه په دغه وخت کښې ـ دوی خلکو ته خپل ځانونه ښکاره کوي !

که څه هم د هر یو شي ابتدا مبهمه او په ګرز کښې پټه وي او د آغاز صورت ئې غیر معین وي .

نشو دیو سیوري او ظل په څیر وي چه له جسم او صورت څخه محروم وي مګر د دې آغاز انجام دغه راز نه وي او دغه مبهم د وځانی حالت ارومرو یو شکل او صورت پیدا کوي او یو وروسته دغه شکل بشپړ او تکمیل کیږي .

نو له دې کبله زه له تاسی څخه داهیله کوم چه ماهېر نه کړئ او ما د یو ې ابتداء په څېر یاد ولري . او په ډېر صبر او ټینګ ایمان د انتها انتظار باسئ !

د ژوندانه تو له اثاثه دعدم په ظلمت او تیاره کښې پیدا کیږي ،

هیڅ کوم د اراز هنداره نشته چه په هغه کښې دغه آغاز خپل عکس واچولی شي مګر هنداره د ظلمت د انحطاط یو منزل دی .

او د دې منزل په مخ کښې یو نور دی ـ او بیا یو نور دی او بیا یو نور د ا تول منزلونه ستاسو د ژوندانه منزلونه دی .

هر کله چه تاسو ما یاد وئ ـ نو زه له تاسی څخه هیله کوم چه د اخبره هم یاده ولرئ .

چه کوم عنصر چه تاسو کښې تاسې ته ډېر کمزوری او منتشر ښکاري هغه په تولو کښې ستاسو د قوت او استحکام اعلا مده .

آیا دا خبره حقیقت نه ده چه ستاسو دا هډوکي اوغوښې او پوټکی چه دستاسو
د بدن قوي اجزا دي ستاسو دا ضعیفه ساه دهغو دژوندانه اساس نه دیء؟
چه ستاسی دغه سایه ظاهر کښې ډیر کمزوري شي ده مګر ستاسو د ټولو قوي
وجود دژوندانه او بقا سبب ده.

آیا هغه شي چه ستاسو ددې ښارونو او ستاسو په خونو او کورونو کښې
د موجودو شیانو د پیدا کیدلو باعث شوي دي، هغه په ابتداء کښې یو نښ
خیال او یوه فرضي مفکوره نه وه؟
چه نن هغه تاسو هیره کړي ده.

او ستاسو دسا دا نازک تاري هغو خیالونو یو یادګار دی.

تاسو که دسا دمد او جزر په حقیقت پوه شوي یاست نو بیا ستاسو دنیا ره
نوري پلټنې لازمي نه دي.

دا ځکه چه ددغه کار په اثر به ستاسو علم او معلومات تکمیل شي. نو که
تاسي دآغاز د دغه خوب تارونه د خپل عقل د ګوتو څخه چاپیر کړيء
نو به دغه صورت کښې به ستاسو هیڅ کوم یو بل شي ته حاجت پاته نشي،
مګر اوس تاسي نه ګوريء - او نه اوريء! او نه لیدل کولای شي! او نه کوم
شي اوریدلای شيء! او بېخبره هم دا ده.

دا ځکه چه کوم نقاب چه ستاسو په سترګو پروت دی دغه نقاب بیرته
کول د هغه چا کار دی چا چه دغه نقاب ستاسو په سترګو غوړولی وی.

کومی خاوري چه ستاسو غوږونه په هغو بند شوي دي هغه خاوري د هغه

لاس کوتی ستاسو له غوز و څخه ایستلی شی، کوم لاسو چه دغه خاوری ستاسو

په غوزونو کښی اچولی دی.

ددغه کار د کیدلو نه وروسته به هغه وخت راشی چه تاسو به هر شی وینی

او اوری!

هر څه به اوری!

به هغه وخت کښی به تاسو د دی خبری هیڅ افسوس نه کوی چه زمونږ نظر ولی

کمزوری ؤ او زما غوزونه ولی کانه وو.

داځکه چه په هغه وخت کښی به تاسو ته د موجوداتو راز ونه ښکاره

او معلوم شی.

په تاسو به د خپل خفی آغاز انجام واضح شی.

په دغه وخت کښی به تاسو ته ظلمت هم. چه ستاسو آغاز دومره مبارك او

مسعود ښکاره شی، لکه څنګه چه تاسو ته نور. چه ستاسو انجام دی مسعو د

او مبارك ښکاره کیده!

د دی خبری د خلاصولو نه وروسته هغه کیرچاپیره وکتل. د دغه سلسله

کښی د خپل جهاز ماڼو کان و لیدل چه د جهاز په چپوتی لاسو نه ایښی او منتظر

ولاړ دی.

کیله د خپل جهاز بادوانونو ته وکوری او کله د سمندر د یو اخی سطح

مطالعه کوی.

په غه وخت کښی دمو ویل:

زما د جهاز ماڼو د څومره صبر او حوصلی خاوند دی.

موافق بادو نه الوځی او څېې" بالکل تیاری دی او نشی اشاری ته انتظار باسی.
مگر په ډېر صبر او خاموشی زما انتظار باسی.
زما تولو هغو ما نو کانو چه دهغوی غوږونه دسمندر دموسیقی سره آشنا دی
زما دا خبری په ډېر شوق واوریدلې.
زما وس نه غوارم چه هغوی زما نور انتظار وباسی!
زه تلو ته چمتو او تیار یم!
دغروتو څخه دچینو او بوځانو نه سمندر راورسول.
کوچنیان دمیندو غېږوته بیرته ولاړل.
اې دعرفې خلکو دخدای په امان! نن ورځ خلاصه شوه!
که دا بوه ورځ زمونږ دخبرو اترو دپاره کافی نه وی نو بوه ورځ به بیا راشم!
بیا به سره یو ځای شو!
تول به یو ځای دخپل پاك خدای په دربار کښې دعجز او نیاز لاسونه پورته
کړو! او داسوالونه به وکړو:
ای لویه خدایه! نور راکړه! ډېر راکړه! تراوسه لا بشه نه یو ماړه شوی
او حاجتونه مونه دی ترسره شوی!
گوری هیر مونه شی! چه زه به بیا راشم!
څه موده او څو ورځې وروسته!
زما ذوق دا کوښښ کوی چه بیا دبوبل جسم دترتیب دپاره خاوری او به
جمع کړی.
څو ورځې وروسته ..... چه زه په فنا کښې څه قدر ته دمه جوړه اولېږ

استراحت وکړم ـ نوځه موده وروسته به بیا درته راشم !

رخصت! رخصت ! له تاسو نه ـ اودهغه ځوانی څخه چه ماتاسوسره یو ځای تیره کړه!

دخدای په امان ! بیرون مونږ تول دخوب اوخیال په تړمه کښې د یو بل سره آشنا شو '

تاسو به زما په غیاب کښې زما دمینې بدلې ویلې .

ما به ستاسو دپاره په اسمانونو کښې منارې جوړ ولې .

ن مونږ تو ل سره راوبښ شوی یوا اواوس مونږ دپاره د بیده کېدلو موقع نشته .

داځکه چه لمر راختلی دی.

مونږ دپار ه دیوبل څخه جلا کېدل یوضروری کاردی .

مګر باید ددې تیروخت اوماضی په روڼا کښې مونږدیوبل لاس ونیسو.

او یو بل سره د بیرې خبری وکړو .

او بیا تاسو زما په یاد کښې بدلی ووایئ !ـ چه له یخوا نو بدلو څخه د بیرې خوږې وی

بیا به زه تاسو دپاره په آسمان کښې مناره ودانه کړ م !چه د یخوا نی منارې څخه د بیره جګه وی

ددې وینا نه وروسته ئې ماهو ګانوته اشاره وکړه .

-۹-

ما نو ګا نو د چهاز لنګر پورته کړ. اوجهازدلمرخاته په لوری روان شو.

په دې وخت کښې د عرفې د خلکو د خولو نه يو شور او ځوږ پورته شو چه دغه شور
د شپې په تيارو کښې د سمندر په لور روان شو .

په دغو خلکو کښې يواځې عارفه نومې ښځه چپه پاته شوه ، چه نه ددې د خولې
نه چا کوم آواز واورېد او نه کوم يو آه او افسوس !

او نه له دې څخه چا د خداى په امانۍ او وداع کوم لفظ واورېد .

ګويادى دا نه غوښتل چه ددې آواز د عرفې د خلکو د آواز سره ګډ
او يوځاى شى .

دى په ډېره مينه او پټه خوله د جهاز بادوانونه به ډېر حسرت کتل
ترڅو چه جهاز د سمندر په دمه او غبار کښې پټ او د دوى د نظر څخه غايب شول

هر کله چه ټول خلک خپاره شول ، نو دا تر ډېره وخته پورې د سمندر په
غاړه ولاړه وه .

او په خپل زړه کښې ئې د تللى او جلاشوى مسافر دا الفاظ په ډېره غمجنه
لهجه بيا بيا تکرارول .

څو ورځې وروسته ــ چه زه خپله دمه جوړه او لږ آرام وکړم نو بيا به
د يوې ښځې د خېټې څخه بيرته راپيداشم .

(تمت بالخير)

ACKU

# سمون

| مخ | کرښه | ناسم | سم |
|---|---|---|---|
| ٣ | ٥ | تا ثر | تأثر |
| ٤ | ٩ | خوا نه | خوا ته |
| ٥ | ٤ | رعده | وعده |
| ٨ | ٤ | چپاو علی | چپه‌اوغلي |
| ١٠ | ١٨ | میه | مینه |
| ١٠ | ١٩ | مشکلات | مشکلات |
| ١١ | ١٥ | خوا | حوا |
| ١٣ | ١٦ | هفه | هغه |
| ١٦ | ١٠ | ٠ | به |
| ١٩ | ٦ | رار | راز |
| ٢١ | ٤ | خوداری | خودداری |
| ٢٢ | ١ | بتگر | ختگر |
| ٢٣ | ١٨ | جو | جوړ |
| ٤٣ | ٤ | تله | تله |
| ٥٠ | ٢٠ | یر | دیر |
| ٧٧ | ١٢ | چه‌دی | دی |
| ٨٣ | ١٣ | ما د | ما ته |
| ٨٣ | ١٣ | هو | هوا |
| ٨٣ | ١٤ | د | ده |

| مخ | کرښه | ناسم | سم |
|---|---|---|---|
| ۸۸ | ۱۱ | رفتا | رفتار |
| ۸۹ | ۱ | خه | خبري |
| ۹۰ | ۳ | دیبزدی | ریبزدی |
| ۹۳ | ۹ | ښکلو | ښکلو |
| ۹۳ | ۱۱ | اجنی | اجنبی |
| ۹۳ | ۳ | هغه | دهغه |
| ۹٤ | ۲۱ | کرای | کړای |
| ۹٦ | ٤ | ښکار | ښکاره |
| ۹٦ | ۹ | شپږ | بشپړ |
| ۹۸ | ۲۰ | غه | دغه |
| ۹۹ | ۷ | سمندر | سمندرته |

PROPERTY OF ACKU 32322

۱۳۶۵/۹/۳۰

پښتو ټولنه

ACKU

مطبعهٔ دولتی